

# د یوولسم ټولګی لپاره جغرافیه سوالونه او ځوابونه

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

# کرنه او دهغه اقتصادي ارزښت

✱ کرنه تغریف کړئ ؟
کرنه د خبوباتو ،سبزیجاتو او د لومړنیو نباتی موادو د تخمونو د کرلو او شیندلو لپاره د ځمکي له تیارولو څخه عبارت دی .
✱ د افغانستان اقتصاد په څه شی باندی ولاړ دی ؟
د افغانستان اقتصاد په کرنه او مالداری باندی ولاړ دی .
✱ کوم لاملونه د تولیداتو په څرنګوالی باندی اغیزه لری ؟
فزیکي ، اقتصادی ، سیاسی او تولینز لاملونه د افغانستان په اقتصاد اغیزه لری .
✱ د افغانستان کرنیز سیستم په څو ډوله دی ؟
په دوه ډوله دی اول دودیزه کرنه دوهم غصری کرنه .
✱ افغانستان څومره کریزه ځمکه لری ؟
افغانستان ۷/۹ میلیونه هکتاره کرنیزه ځمکه لری .
✱ د افغانستان څومره ځمکه د خړبولو قابلیت لری ؟
د افغانستان ۵/۳ میلیونه هکتاره ځمکه د خړبولو قابلیت لری .
✱ د افغانستان څومره ځمکه اوبه کیږي ؟
د افغانستان ۲/۶ میلیونه هکتاره ځمکه اوبه کیږي .

## د کرني لاری چاری

✱د کرني پخوانی سیستم څرنګه وه تشریح یی کړی ؟
په څارویو باندی یوی کول او درانه کارونه د بزګر پرمټ کېدل یوازی د بزګر د اړتیاوو پوره کول وه او د ډیری ځمکي څخه لږ خاصل اخیسته .
✱ د دولتی احصایی له مخی د غذایی توکو په توګه هر افغان د غنمو لګښت په کال کي څومره وه ؟
د هر افغان د غنمو لګښت په کال کي ۱۶۲ کیلو ګرامه وه .
✱ د کرنی عصری طریقه څرنګه وه تشریح یی کړی ؟
اصلاح شوی تخمونه ، د ناروغیو درمل ، د اوبو لګولو سیستم ، بازار موندنه ، اړیکي ، کرنیز ماشینونه او د نباتاتو ساتنی خدمتونه او داسی نور به یی لرل .
✱ د دودیزی او عصری طریقی تر مینځ فرق واضح کړی ؟
په دودیزه کرنه کي یوازی د کورنی اړتیاوو او لګښتونو پوره کېدونکي ده او د دودیزو وسایلو څخه کار اخلی او ټول کارونه د بزګر او څارویو په مرسته ترسره کیږي .
او په عصری طریقه کي اصلاح شوی تخمونه ، د ناروغیو درمل ، د اوبو لګولو سیستم ، بازار موندنه ، اړیکي ، کرنیز ماشینونه او د نباتاتو ساتنی خدمتونه او داسی موجود دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مهم کرنیز تولیدات

✱ په افغانستان کې کوم مهم زراعتی بوټی کرل کیږي ؟
په افغانستان کې غنم ، پنبه ، جوار ، اوربشی ، او میوه لرونکې بوټی کرل کیږي .
✱ په افغانستان کې د کرنی وړ ځمکه څو فیصده او هم واضح کړی څو فیصده ابی او څو فیصده للمی ده ؟
د هیواد د کرنی وړ ځمکه ۸/۷ میلونه هکتآره ده او٪۵۶ ابی او للمی یی ٪۴۴ ده .

✱ افغانستان کې د بهر نه په څومره لوړ سطحه کې غنم کرل کیږي او په کومو سیمو کې کرل کیږي ؟
غنم د افغانستان له ۳۰۰۰ څخه تر ۳۳۰۰ مترو پوری کرل کیږي او غنم په ټول افغانستان کې کرل کیږي .
✱ وریجی د افغانستان په کومو سیمو کې کرل کیږي او جوار ، وربشی او سابه د هیواد په کومو سیمو کې کرل کیږي ؟
وریجی او اوربشی په توده هوا او ډیرو اوبو لرونکو سیمو کې کرل کیږي ، او جوار په پکتیکا ، ننگرهار او لوګر کې کرل کیږي .
✱ په افغانستان کې کومی میوي کرل کیږي او کومی میوي خارج ته صادر کیږي ؟
انار ، بادام ، منی انګور ، هندوانه او ختکې کرل کیږي او هم بهر ته صادر کیږي .
✱ په افغانستان کې کوم صنعتی ، طبی او عوږ لرونکې بوټی کرل کیږی ؟
صنعتی بوټی ګني ، چغندر او پنبه ، طبی بوټی زعفران ، شمکې ، خوږولې او عوږ لرونکې بوټی زغر ، شړشم ، کنځلی لمر ګلی اوداسی نور کرل کیږي .

## مالداری او د هغی اقتصادی ارزښت

✱زموږ هیواد ولی د څارویو روزلو لپاره مساعد دی ؟
ځکه چې په ټولو سیمو کې د غرونو لمنی او د څاورینو غونډیو شتون د څارویو روزنی ته شرایط چمتو کړی .
✱ د افغانستان څو فیصده وګړی په کرنه او مالداری بوخت دی ؟
د افغانستان ٪۸۰ فیصده وګړی په کرنه او مالداری بوخت دی .
✱ د افغانستان د څارویو د تولیداتو ارزښت د ملی ناخالص عاید په سلو کې څو دی ؟
د ۷ ـ ۱۰ پوری ناخالص عاید یی دی .
✱ په افغانستان کې د څارویو روزلو لپاره خلک د څه قسم مشکلاتو سره مخ دی ؟
دیرش کلنو جګړو ، وچکالی او د پاکو اوبو کمښت حلک د ستونزو سره مخ کړی دی .
✱ د افغانستان د صادراتو څو فیصده د څارویو محصولات برابروی ؟
د افغانستان د صادراتو په سلو کې ۱۰ ـ ۲۰ پوری برابروی .
✱ د هغو څارویو نومونه ولیکئ چې زموږ بزګران یی ساتی ؟
پسونه ، میږې ، اوزې ، اوښان ، خره ، عواوې ، اسونه او کچر ساتی .
✱ د هر وګړی لپاره په کال کې د غوښو او شیدو اندازه څومره ده ؟
د هر وګړی لپاره د ۱۱/۵ تر ۶۰ کیلو ګرامه اټکل شوی ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مالداری لارې چارې

✱په افغانستان کې په څو طریقو سره د مالداری لارې چارې پرمخ ځی ؟
په دوه ډوله سره اول دودیزه دوهم عصری .

✱ دودیزی او لرغونی طریقی لاری چاری تشریح کړی ؟
په لرغونی طریقه کې به کوچې مالداران په ډیرو زیاتو کړاونو په ګاللو سره د کال په اوږدو کې د خپلو څارویو د څرولو په حاطر د یو ځای څخه بل ځای پوری تګ په حال کې وی او په واښه لرونکو سیمو کې د څارویو په څرولو بوخت دی ،او ستونزی یی وچکالی ، ځښلو اوبو نشتوالی ، ناپاکه اوبه په ژمی کې سر پنا نه لرل د خیوانی ناروغیو په وړاندی د څارویو نه ساتل او داسی نور .

✱ د عصری او پرمختللی طریقی لاری چاری تشریح کړی ؟
په افغانستان کې په عصری او فنی ډول د څارویو روزنه او تکثیر په ۱۳۱۲ ه کال کې پیل شوه .او په ۱۳۱۵ ه لومړی د څارویو کلینک په کابل کې جوړ شو . او په ۱۳۲۳ ه کال کې په بدحشان او د هغه وخت په قطغن ولایت عواګانو کې وژونکې ناروعی خپره شوه . په ۱۳۴۵ ه کال تر پایه پوری په هیواد کې ۹ کلینکونه جوړ شو . او په ۱۳۵۳ ه کال کې یی شمیر ۱۶ ته پورته شو ، پوره وښو چمتو کول ، د څارویو حوراک ته ښه پاملرنه د خیوانی ناروعیو پر وړاندی د څارویو ساتنه ، مصنوعی اصلاح شوو نسلونو ترویج او ډیربښت .

# وحشی ژوی

✱زموږ هیواد ولی د وحشی ژویو ساتنی لپاره مساعد دی ؟
د ځنګلونو ، غرونو ، اقلیمی او خوراکې توکو پیداکېدو له کبله مساعد دی .

✱ زوحیاتین کوم دی نومونه یی ولیکئ ؟
ځرمښکی ، سمسیره ، چنګاښ ، چونګښه ، مار او نور .

✱ په افغانستان کې څو ډوله ماران دی او څو ډوله یی زهری دی ؟
په افغانستان کې ۲۷ ډوله پیژندل شوی د ی چې ۷ یی ډوله زهری ماران دی د دې جملې څخه ۵ افعی او ۲ کبرا دی .

✱ تی لرونکې وحشی ژوی څو ډولونه لری مثالونه یی ولیکئ ؟
۱۲۰ ډولونه لری لکه سورلندیان ، یږي ، پړانګ ، لیوان او داسی نور .

✱ الوتونکې په افغانستان کې څو ډوله دی او مشهور یی کوم دی ؟
۳۰۰ بیلا بیل ډولونه لری او مشهوریی زانه ، ډنګ ، طوطی ، کارغه ، مارعه ، باښه توتکې او داسی نور .

✱ د وحشی ژویو ژوند د کومو ګواښونو سره مخامخ دی ؟
انسان د ځنګلونو په وهلو ، د کورنیو څارویو په څرولو ،د هغوی په ځالو کې لاسوهنه د سوځولو په خاطر د ونو بوتو پری کول وحشی ژویو ته ګواښ پیښوي .

# د کرنې او مالداری څرنګوالی

✱هغه هیوادونه چې د هغه حلک په کرنه بوخت دی کوم هیوادونه ورته ویل کیږي ؟
پرمختیا یی هیوادونه ورته وایی او دغه خلک خپلی اړتیاوی د کرنی نه پوره کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ افغانستان څو فیصده حلک د خپلو اړتیاوو څخه لږ خوراکي توکي مصرف کوي او د هیواد څو فیصده کورنی د ورځي لږ خوراکي لګښت لري ؟

ټول هیواد په سلو کي ۳۰ نفوس د خپلی اړتیا څخه لږ خوراکي توکي مصرف کوی او په سلو کي ۲۴ کورنی د ورځی ډیر لږ خوراکي لګښت لری .

✱ د هیواد څو فیصده ماشومان د وزن په کمښت اخته او ولي ؟

په سلو کي ۴۰ له دری کلنی څخه د ټیټ عمر ماشومان خوار ځواکي اخته دی ، او په سلو کي ۶-۷ پوری له همدی امله مری ، د هیواد ۴۴ وګړی د بیلا بیلو کمبود خوراکي توکو ستونزه لري .

✱ که د اوبو څخه سمه ګټه واحستل شي په کرنه او مالداری کي کوم بدلون راځي ؟

د کرنی او څارویو محصولات به څو برابره زیات شی د کورنی د اړتیا په برسیره به د صادراتو په برخه کي پرمختک وشی........

✱ هغه لاملونه چي د هیواد د کرنی او مالداری په پرمختک ، پراختیا او مخدودیت باندې اثر لري ولیکئ ؟

لکه : طبعی ، بشری ، اقتصاد او سیاسی لاملونه دی .

## انرژی او د هغه اهمیت

✱انرژی تعریف کړي ؟

انرژی هغه ځواک یا قوت دی چي په هغی سره په صنایعو ، ماشینونو او صنعتی تولیداتو کي حوځښت راځی .

✱ د انرژی څو سرچینی پیژنی نومونه یی ولکي ؟

د نرژی مهمی سرچینی لمر ، اوبه ، ډبرو سکاره ، نفت او ګاز ................

✱ ولی د ډبروسکاره د انرژی د مهمو توکو څخه شمیرل کیږي ؟

ځکه چي د نورو سرچینو په نسبت ارزانه دی .

✱ د نفتو په اړه په کوم کال زمونږ په هیواد کي څیړنی پیل شوي ؟

په ۱۳۱۵ ه کال کي د افغانی او بهرنیو جیولوجیستانو په مرسته څیړنی پیل شوی .

✱ د طبعی ګاز څخه په کومو برخو کي کار احستل کیږي او هم واضع کړی چي اوبو برښنا نه چیرته ګټه احستل کیږي ؟

د دواړو څخه به کورنو روښانه ولو د تودولو ، پخلی ، او صنعتی کارخانو او برقی وسایلو کي ورڅخه ګټه احیستل کیږي .

✱ د لمریزی برښنا څخه په کومو کارونو په برخه کي کار احیستل کیږي ؟

لمریز پمپونو ، د اوبو لګولو ، لمریز څراغونو او نورو کي ګټه احستل کیږی ، د اوبو او انرژی وزارت په پام کي لری چي د کونړ او کوکچي په سیندونو باندی د ۸ میلیارد ډالرو په لګښت بندونه جوړ کړی .

## د انرژی د نوی کیدو او نه نوی کیدو ور سرچینی

✱ د انرژی سرچینی په څو ډوله دی د مثال سره یی ولیکئ ؟

په دوه ډوله دی اول نوی کیدونکي لکه لمر ، اوبه ، باد او دوهم نه نوی کیدونکي لکه نفت ، ګاز ، ډبروسکاره .

✱ د انرژی نوی کیدونکي سرچینی کومی دی تشرح یی کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
د انرژی نوی کېدونکي سرچېنی هغه دی چې په طبیعت کې په پوره اندازه پیداکیږي ، تل موجودي وی ، او پای ته نه رسیدونکي وي .
✱ د انرژی نه نوی کېدونکي سرچېنی کومی دی تشرح یی کړي ؟
دا هغه سرچېنی دی چې په طبیعت کې په کمه اندازه پیدا کیږي ، او وروسته د څه مودی د دې زیرمی پای ته رسیږي او انسان نه شی کولای چې په دومداره توګه ورڅخه ګټه واحلی .
✱ د انرژی نوی کېدو او نه نوی کېدو تر مینځ فرق څه شی دي ؟
د انرژی نوی کېدونکي په طبیعت کې په پوره اندازه پیداکیږي ، د طبیغت د ککړتیا لامل نه ګرځي ، او پای ته نه رسیدونکي دي ،
او نه نوی کېدو انرژی په طبیغت کې په کمه اندازه پیدا کیږي ، د طبیغت د ککړتیا لامل ګرځي ، او پای ته رسیدونکي دي .

## برېښنا

✱د برېښنا څخه د مهمي سرچېني په توګه په کومو ځایونو کې کار احیستل کیږي ؟
په ټولو صنعتي او اقتصادي چارو کورونو ښارونو او برقي وسایلو کې کار احیستل کیږي .
✱په افعانستان کې د برېښنا لومړي دستګاه د کوم پاچا او په کوم کال جوړه شوه ؟
د عبدالرخمن خان په وخت کې او په ۱۲۷۵ ه ل کال .
✱ ۱۲۹۰ ه ل کال په جلال اباد کې څومره کېلو واټ ظرفیت سره د برېښنا ماشین په کار واچول شو ؟
۱۲۹۰ ه ل کال په جلال اباد کې د ۱۹ کېلو واټ په ظرفیت یو ماشین د بڼراس په واسطه په کار واچول شو .
✱ په پعمان کې په کوم کال او څومره ظرفیت او څو کېلو واټ سره کوچنۍ دستګاه په کار واچول شوه ؟
په پغمان کې ۱۲۹۶ ه ل کال ۱۵ کېلو واټه په وړتیا له بڼراس څخه برېښنا د تولید یوه کوچنۍ دستګاه په کار واچول شوه .
✱ د ماستر پلان له مخي افعانستان د څومره میګاواټه برېښنا قابلیت لري او د دې جملې څخه څومره یی خرارتي او څومره یی اوبو ده ؟
د ماسټر پلان له مخي افعانستان ۲۴۰۰۰ میګاه واټه برېښنا وړتیا لري چې ۲۳۰۰۰ یی اوبو او پاتي نوره یی خرارتي ده .
✱ ۱۹۷۶ م کال په نړۍ کې د برېښنا د سړی سر تولید اندازه په یو ساغت کې څومره وه او په همدی کال کې په افعانستان کې د سړی سر تولید اندازه څومره وه چې د نړۍ په سطحه څو واری کمه وه ؟
په ۱۹۷۶ م کال کې په نړۍ کې د سړی سر اندازه په یو ساغت کې ۱۷۱۴ کېلو واټه وه او په همدي کال په افعانستان کې د سړی سر اندازه یو ساغت کې ۴۱ کېلو واټه وه چې د نړۍ په سطخه ۴۲ ځله کمه وه .
✱ د افعانستان د اوبو برېښنا بندونو نومونه ولیکئ ؟
د نغلو بند ، درونټي بند ، سروبي بند ، کجکي بند ، ماهیپر بند او جبل السراج بند .

## د اوبو برېښنا

✱د کومه پیړۍ کې برېښنا د انرژی یوی مهمی سرچېنی په توګه پیژندل شوی ده ؟
د ۲۰ پیړۍ له نیمایي را وروسته په صنعت او د بشریت ژوند په ټولو برخو کې برېښنا د انرژی د یوی مهمی سرچېنی په توګه پیژندل شوی ده .
✱ د لومړی سروي له مخی افعانستان سیندونه په یو ساغت کې د څومره اوبو انرژی وړتیا لری ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
د افغانستان له سیندونو څخه په یو ساعت کې ۲/۵ میلونه کیلو واټه بریښنا ترلاسه کېدای شي .
✱ په اوسنی وخت کې بریښنا د کومو سرچینو څخه ترلاسه کیږي ؟
په اوسنی وخت کې نه یوازې د سیندونو څخه بلکې له خرارتی سرچینو لکه : ډبرو سکاره ، نفتو او ګازو څخه تر لاسه کیږي .

## جبل السراج

✱ دا بریښنا په کوم سیند جوړه شوی په کوم کال یی کار پیل شوی او په کوم کال یی کار پای ته رسیدلي د بریښنا ظرفیت څومره او چیرته په مصرف رسیږي ؟
دا بریښنا د سالنګ په سیند جوړه شوي په ۱۲۹۴ ه ل کال کې کار پیل شوی او په ۱۲۹۹ ه ل کال کې کار پای ته رسیدلي دری توربینونه لری چې مجموغی ظرفیت یی ۱۵۰۰ کیلو واټه دي په دی باندی جبل السراج ، چاریکارو ، د ښارونو په روښانه کولو او د ګلبهار فابریکه په کار اچولو کې ور څخه کار اخیستل کیږي .

## د وردکو د چک بریښنا بند

✱دا د بریښنا بند په کوم کال جوړ شوي وړتیا یی څومره او چیرته په مصرف رسیږي ؟
د چک د بریښنا بند په ۱۳۱۶ ه ل کال د عوایي په میاشت کې جوړ شوي چې په ساعت کې ۳۳۰۰ کیلو واټه توان لري او په کابل کې په مصرف رسیږي .

## د پلخمری بریښنا بند

✱دا بند په کوم کال جوړ شوي څومره ظرفیت لري او چیرته په مصرف رسیږي ؟
دغه بند په ۱۳۲۰ ه ل کال د کندوز پر سیند جوړ شوی په یو ساعت کې ۴۸۰۰ کیلو واټه وړتیا لري د بغلان په نساجي فابریکې ، د موټرو ترمیم په فابریکې او د بغلان ښار په روښانه کولو کې مصرفیږي .

## د کجکي بریښنا بند

✱ د کجکي بریښنا بند کار په کوم کال شروغ شوی او په کوم کال ختم شوي دا بند په کوم ځای کې جوړ شوي او ظرفیت یی څومره ده ؟
د جوړلو کار یی په ۱۳۳۰ ه ل کې پیل او په ۱۳۳۲ ه ل کال کې ختم شو د هلمند کجکي په ولسوالی کې جوړ شوي او د تولید ظرفیت یی ۳۳۰۰۰ کیلو واټه دي .

## د سروبي اوبو د بریښنا بند

✱ د سروبي د بریښنا بند کار په کوم کال شروغ شوي او په کوم کال ختم شوي ظرفیت یی څومره او بجلی یی په کوم ځای کې په مصرف رسیږي ؟
کار یی په ۱۳۳۰ ه ل کال کې پیل او په ۱۳۳۶ ه ل کال کې پای ته ورسید د دي دستګاه اوسنی ظرفیت یی په یو ساغت کې ۲۲۰۰۰ کیلو واټه دی ، او مصرف یی د کابل ښار روښانه کولو د ګلبهار فابریکې او د مرکز د یو شمیر صنغتی موسیسو کې کار اخیستل کیږي .

## د ماهیپر د بریښنا بند

✱ ماهیپر د بریښنا بند کار په کوم کال شروغ شوي او په کوم کال ختم شوي ظرفیت یی څومره او بجلی یی په کوم ځای کې په مصرف رسیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماهیپر بند کار په ۱۳۳۱ ه ل کال کې پیل او په ۱۳۴۵ ه ل کال کې ختم شوی ، او ظرفیت یې چې هر دربین یې په یو ساعت کې ۲۲۰۰۰ (ټول ۶۶۰۰۰ ) واټه بریښنا تولیدوي ، او په کابل کې په مصرف رسیږي .

## درونټي بریښنا فابریکه

✱ درونټې بریښنا کار په کوم کال شروغ شوي او په کوم کال ختم شوي ظرفیت یې ټول څومره او بجلی یې په کوم ځای کې په مصرف رسیږي ؟

د درونټې بریښنا کار په ۱۳۳۲ ه ل کال کې پیل او په ۱۳۴۳ ه ل کال کې ختم شوي ظرفیت یې په یو ساعت کې ۱۲۰۰۰ کېلو واټه دي ، او مصرف یې جلال اباد ښار روښانه کول صنعتی موسیسو او د ۳۲۵۰۰ جریبه ځمکو ته اوبو پمپ کولو لپاره کار اخیستل کېږي .

## د نغلو بریښنا بند فابریکه

✱ د نغلو بند فابریکه په کوم ځای کې جوړه شوی د دې فابریکې کار په کوم کال شروغ شوی او په کوم کال ختم شوی ظرفیت یې څومره بریښنا یې چېرته په مصرف رسیږي او موخې یې کومی وي ؟
د کابل ښار په ختیځ ۷۰ کېلو مترو په واټن جوړ شوی ، او کاریې په ۱۳۳۹ کې پیل او په ۱۳۴۶ ه ل کال کې ختم شوی ، ظرفیت یې څلور دربینونه لری چې توله وړتیا یې په یو ساعت کې ۱۰۰۰۰۰ کېلو واټه ده او بریښنا یې په کابل کې په مصرف رسیږي او موخې یې د سروبې اوسنیو او وروستیو فابریکو لپاره د اړتیا وړ اوبو زیرمه کول .

## د ازبکستان د بریښنا شبکه

✱ د ازبکستان د بریښنا د پروژی کار په کوم کال شروغ شوی لومړی برخه ،دوهمه برخه او دریمه برخه کار یې د کوم ځای نه تر کوم ځای پوری او ظرفیت یې څومره دی ؟
د ازبکستان د بریښنا د پروژی کار په ۱۳۸۶ ه ل کال کې پیل شو ، لومړی برخه : له ازبکستان څخه تر حیرتانو پوری د ۵۳ کېلو مترو په اوږدوالی د ۲۲۰ کېلو واټو د بل سرکت مزي غځول او د بریښنا لیږدول ، دوهمه برخه : د مزار شریف له نایب اباد څخه ۲۲۰ کېلو واټه د بل سرکت مزي د ۲۳ کېلو مترو په اوږدوالی غځول او لیږدول ، دریمه برخه : له نایب اباد څخه تر پلخمري پوری د ۱۶۴ کېلو مترو په اوږدوالی ۲۲۰ کېلو واټه بریښنا مزي غځول او د بریښنا لیږدول .

## حرارتي بریښنا

✱ د حرارتي بریښنا د سون توکي څه شی دی ولیکئ ؟
د حرارتي بریښنا سون توکي د ډبرو سکارو ، نفتو ، او ګازونه دي .
✱ لومړی ډیزلی بریښنا په کوم کال په کابل کې جوړه شوه ؟
لومړی ډیزلی بریښنا په ۱۳۵۱ ه ل کال کې په کابل کې جوړه شوه .
✱ بله د کوچني فابریکه په ۳۰۰ کېلو واټو په ظرفیت د څه په خاطر جوړه شوه ؟
د کندهار د وړی اوبدلو په خاطر جوړه شو .
✱ د انرژی او اوبو وزارت د راپور له مخی ۱۳۸۵ ه ل کال کې د حرارتي بریښنا د ټولو فابریکو ظرفیت څومره وه او د ټول هیواد فابریکو په سلو کې څوومه برخه جوړوله ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
ټولو فابریکو په یو ساعت کې ۴۲/۷ زره کیلو واټه ته رسیده او ټول هیواد په سلو کې ۱۲/۵ جوړله .

## د مزار شریف حرارتی بریښنا فابریکه

✱ دا حرارتی بریښنا په کوم ځای کې جوړه شوی او ظرفیت یی څومره او د سون توکي یی څه شی دی او چېرته په مصرف رسیږي ؟

د مزار شریف د ښار لویدیځ په ۲۰ کیلو مترو واټن موقعیت لری او ظرفیت یی په یو ساعت کې ۳۶ زره کیلو واټه دی او د سون توکې یی ګاز دی چې د جوزجان څخه په نل لیکه کې لیږدول کیږي او ۲۴ زره کیلو واټه یی بریښنا د کیمیاوي سرې فابریکې لپاره او ۱۲۰۰۰ زره کیلو واټه بریښنا یی د مزار شریف د ښار روښانه کولو لپاره په پام کې نیول شوي .

## د هرات او کندهار د ښارونو حرارتی بریښنا فابریکه

✱ د کندهار په ښار کې لومړی حرارتي بریښنا فابریکه په څومره ظرفیت په کار پیل کړ او اوس یی ظرفیت څومره دی همدارنګه د هرات د بریښنا حرارتی شبکه څومره ظرفیت لري او د سون توکې څه شی دي ؟

لومړی حرارتی بریښنا فابریکه په ۳۰۰۰ کیلو واټو په ظرفیت سره په کار پیل وکړ او اوس یی ظرفیت ۱۲۰۰۰ کیلو واټه دی ، هرات د بریښنا حرارتی دستګاه په یو ساعت کې ۱۲۰۰۰ کیلو واټه ظرفیت لري چې د ډیزلو پرته یکې ډبرو سکاره هم سوځي .

## کابل د بریښنا حرارتی فابریکه

✱ د کابل ښار په شمال د خیرخاني میني ترڅنګ د حرارتی بریښنا دستګاه د جوړلو کار په کوم کال شروع شوی او په کوم کال ختم شوی د دې فابریکې ظرفیت څومره دی او همدارنګه یوه بله شبکه حرارتی بریښنا دستګاه څوکیلو واټو په ظرفیت او د کابل په کوم ځای کې موقعیت لري جوړه شوي ده ؟

د کابل ښار په شمال د خیرخاني میني ترڅنګ د حرارتی بریښنا د جوړلو کار په ۱۳۵۵ ه ل کال کې پیل او په ۱۳۵۷ ه ل کال کې ختم شوی د ۴۵ زرو کیلو واټه بریښنا ظرفیت لری .

د کابل ښار ختیځ ته د هودخیلو په سیمه کې د بریښنا یوه بله حرارتی فابریکه ده چې یه یو ساعت کې ۴۳/۶ کیلو واټو په ظرفیت جوړه شوي .

## د ډبرو سکاره او زموږ په هیواد کې د هغو کانونه

✱ زموږ په هیواد کې د ډبرو سکارو سروې او څیړنې په کوم ځای او د چا له خوا وشوې ؟

د افغانستان د ډبرو سکارو زیرمو په اړه څیړنې او سروې د لومړی ځل لپاره په ۱۳۲۰ ه ل کال کې د هندی جیولوجیستانو هیئات له خوا د کهمرد، اشپشتي ، صوف درې ، تاله او برفک سیمو کې وشوې .

✱ د افغانستان په کومو سیمو کې د ډبروسکارو لوې زیرمې شته ؟

په شمال کې د ډبرو سکارو ډیرې لوی زیرمی شته چې پراخه سیمه یی نیولې ده دغه سیمه د تخار څخه تر هرات پوری غځیدلې .

✱ د افغانستان د کومو ځایونو څخه زیات د ډبرو سکاره رایستل کیږي ؟

کرکر ، اشپشتي ، کرخ ، سبزکو ، صوف دره او بنګي څخه خو زیاتره یی کرکر او اشپشتي سیمې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د صوف دري د ډبرو سکارو کان

✱ دا کان چېرته موقعیت لري زیرمې یې څومره اټکل شوي د کومو لاملونو له کبله ورڅخه کمه ګټه اخیستل کیږي او سکاره یې چېرته په مصرف رسیږي ؟
په سمنګانو کې موقعیت لري زیرمې یې ۷۴ میلیونو ټنو ته رسیږي لامل یې دا دی چې یو خو صنعتي مرکزونو څخه لیرې دی او بل دا چې د لیږدولو وسایل مخدود او امکانات په لاس کې نشته او په کابل بلخ کې په مصرف رسیږي .

## د اشپشتې ډبروسکارو کان

✱ د دې کان د موقعیت په اړه معلومات ولیکئ ، دا کان د کمیت او کیفیت له مخې ډېر اهمیت نه لري ولې ، د کان زیرمې څومره اټکل شوي او چېرته په مصرف رسیږي ؟
دغه کان د پلخمري د صنعتي ښار جنوب ته په ۱۱۰ کیلو مترو په واټن کې د بغلان ولایت د سیغان په سیمه کې پروت دي ، دا ځکه چې د جوړښت له مخې پیچلي او د هغه رایستلو په برخه کې سونزې دي د دغه کان زیرمې ۵۰۰ زرو ټنو ته رسیږي د دولتي ادارو ، روغتونونو او د کابل ښار لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي .

## د کرکر د ډبروسکارو کان

✱ دا کان چېرته موقعیت لرې ظرفیت یې څومره اټکل شو په ۱۳۸۷ ه ل کال کې د دې کان څخه څومره سکاره رایستل شوي دي ورځینې تولید یې په منځینې توګه څومره او سکاره یې چېرته په مصرف رسیږي ؟
د کرکرو کان د پلخمري ښار څخه لس کیلو متره لیرې جنوب ختیځ ته د کرکر له غره سره پروت دي ، ۱۵ میلیونه ظرفیت لري ، په ۱۳۸۷ ه ل کال کې ددغه کان څخه ۳۸۰۰ ټنو څخه زیات سکاره ایستل شوي او ورځینې تولیدات یې په منځینې توګه ۳۰۰ څخه تر ۴۰۰ ټنو پورې دی، او مصرف یې د پلخمري سیمټو فابریکه ، بټیو او په کابل کې په مصرف رسیږي .
دا کان ولې د زیات اهمیت وړ دي ؟

✱ نوموړی کان د پلخمري صنعتي مرکزونو ته نژدې پروت دی او د بلې خوا د کابل کندز د لویې لارې په خوا کې پروت دي نو ځکه د اهمیت وړ دي .

## د هرات ډبرو سکارو کان

✱ د دې کان موقعیت په اړه معلومات ولیکئ اټکلي زیرمې یې څومره دی په کوم کال باندې حصوصي سکتور ته وسپارل شول د دې کان کلنی تولیدات څومره او کلنی عاید یې څومره او سکاره یې چېرته په مصرف رسیږي ؟
دغه کان د هرات ولایت ختیځ کې ۱۱۰ کیلو مترو په واټن د سبزک غاښې څخه لاندې واقع دی د کرخ سیند پورته خوا ته موقعیت لرې زیرمې یې ۹/۵ میلیونه ټنه ښودل شوي ، دغه کان ۱۳۸۶ ه ل کال کې حصوصي سکتور ته وسپارل شو کلنی تولیدات یې ۴۰ زره ټنه او کلنی عاید یې ۲۰ میلیونه دي مصرف یې هرات ښاروالي او فرقه ورڅخه کار اخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هیواد د نفت لرونکي حوزي

✱ په ۱۳۳۳ ه ل کال کې د کومي کمپنی لخوا په منظمه توګه د نفتو سروې په کوم ځای کې ترسره شوي ؟

په ۱۳۳۳ ه ل کال کې یوې سویډني کمپنی د نفتو د پلټني چاري په منظمه توګه د سرپل په ولایت کې پیل او د پام وړ بریالیتوبونه یی ترلاسه کړل .

✱ د شوروي اتحاد متخصصینو لخوا په کوم کال په کوم ځای کې څومره مربع میله ساحه کې د نفتو پلټني شوي ؟

د شوروي اتحاد متخصصینو په مرسته د مزارشریف او اندخوی ترمنځ د افغانستان په شمال کې په ۴۶۰۰ مربع میله ساحه کې د نفتو پلټنی پیل شوي

په ۱۳۳۸ ه ل کال کې .

✱ د هغو ولایتونو نومونه ولیکئ چې د نفتو زیرمي پکې تر سترګو کیږي او هم ولیکئ چې یوازینی د نفتو تثبیت شوی زیرمه د څه په نوم یادیږي او په کوم ځای کې ده ؟

هرات ، شبرغان ، میمني ، کندز ، تالقان ، مزارشریف او نورو سیمو کې د نفتو زیرمي ترسترګو شوي ، او د نفتو یوازینی تثبیت شوی زیرمه په جوزجان کې ده او د انګوت په نامه یادیږي .

## د انګوت د نفتو کان

✱ د ا کان چیرته موقیعت لري او طبقې یی د څو څخه تر څو پوری دی جولوژیکي زیرمي یی څومره او د رایستلو زیرمي څومره دی ؟

د سرپل ښار څخه پنځه کیلو متره ختیځ کې پروت دی چې د نفتو طبقې یی د ۱۱۰۰ نه تر ۱۲۰۰ مترو پوری تر سترګو کیږي ، جیولوژیکي زیرمی یی ۷/۱ میلونو ټنه او ایستل کیدو وړ زیرمي یی ۲،۰۶ میلیونه ټنه ده .

## د اف دریا د نفتو کان

✱ دا کان چیرته موقیعت لري ټولي زیرمي څومره او د ګټی وړ زیرمي څومره دي ؟

د سرپل څخه لس ټنه کیلو متره ختیځ کې دي ټولې زیرمي یی ۱۲ میلیونو ټنه ښودل شوي او د ګټی وړ زیرمي یی څلور میلونه دي .

## د قشقري د نفتو کان

✱ دا کان چیرته موقیعت لري اټکلی زیرمي څومره او د رایستلو زیرمي څومره دی ؟

د سرپل جنوب ختیځ ته په ۱۲ کیلو متره کې پروت دی جیولوژیکي زیرمي یی ۱۹،۶ میلیونه ټنه او د ایستلو وړ زیرمي ۶،۳۸۱ میلیونه ټنه نفت ښودل شوی .

## د زمرد سای د نفتو کان

✱ دا کان چیرته موقیعت لري او اټکلی زیرمي یی څومره او د ایستلو وړ زیرمي یی څومره دي ؟

د شبرغان ښار د جنوب لویدیځ په ۶۰ کیلومترکي کې پروت دي زیرمي یی ۹،۱۹ میلیونه ټنه او د ایستلو وړ زیرمي یی ۳،۴ میلیونه ټنه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فلزات

✱ هغه لومړی فلز چې انسانانو وپیژندل کوم وه او هغه چې دوهم ځل یې وپیژاند کوم او ولیکئ چې زموږ په هیواد کې د کومو فلزاتو کانونونه شته ؟

هغه لومړی فلز چې انسانانو وپیژاند مس وه او دوهم اوسپنه وه ، زموږ په هیواد کې د یو شمیر فلزاتو لکه : مس ، اوسپنه ، سرب ، جست ، کروم او ګرانبیه فلزات لکه : سرو زر او سپینو زرو زیرمې شته .

✱ د اوسپنې زیرمی زموږ د هیواد په کومو سیمو کې شته د اټکلی زیرمو په واضح کولو سره یې ولیکئ ؟

د کندهار په خاکریز کې چې اټکلی زیرمه یې ۸،۲۳ میلیونه ټنه ښودل شوي ، د هرات د عوریانو کان ، بدخشان د سیاه درې کان چې اټکلی زیرمه یې ۴۰ نه تر ۴۵ میلیونو ټنه ده ، د پغمان والسوالی د اوسپنی کان چې اټکلی زیرمه یې ۱،۳۸ میلیونوټنو ته رسیږي او د جبل السراج د اوسپنی کان چې اټکلی زیرمه یې ۸ میلیونو ټنو ته رسیږي .

## خاجی ګک اوسپنې کان

✱ دا کان چیرته موقیعت لري د اوسپنې اټکلی زیرمه څومره او دوهمی اټکلی زیرمې څومره او د اوسپنې سلنه یې څومره ده ؟

د بامیان جنوب ختیځ په ۴۵ کیلو متره کې پروت دي اټکلی زیرمې یې ۱،۸ میلیارده ټنه ښودل شوی او سلنه یې ۶۳،۵ ښودل شوی .د کانونو وزارت نوي شمیرنی د دغه کان ثبت شوی زیرمې ۱۱۰ میلیونه ټنه او اټکلی زیرمه یې ۲۰۷۰ میلیونه ښودلی ده .

## مس

✱ د افعانستان په لسوولایتونو کې څو د مسو کانونونو زیرمې شته د کوم ځای څخه تر کوم ځای پورې دي ؟

د افعانستان په لسو ولایتونو کې ۱۲ زیرمې شته د فراه څخه تر کندهار پورې پراخه ساحه یې نیولی ده .

✱ د کابل په مربوطاتو کې د مسو کانونونه په کومو ځایونو کې شته د سلنه سره یې نومونه هم ولیکئ او هم ولیکئ چې د زابل کندلان د مسو کان زیرمه څومره ده او د مسو اندازه په سلو کې څو ده ؟

د مسو طبقو کانونونه په تغر خورد کابل او ان چهلستون په غرونوکې تر سترګو کیږي ، د کابل په دربند کې (د عینک له کان څخه ۸-۹ کیلو متره ) په خطی بنه پروت دی چې د مسو اندازه یې په سلو کې ۰،۸۵ ـــــ ۱،۵۵ پورې ده او د زابل په ولایت کې د کندلان په سیمه کې ثبت شوی چې د مسو اندازه یې په سلو کې ۰،۶۲ څخه تر ۱،۲ پوره ده ټوله زیرمه یې ۵ نه تر ۸ میلیونو ټنو پورې اټکل شوي ده .

## د لوګر د عینک مسو کان

✱ دا کان چیرته موقیعت لري د مسو اندازه یې څومره او اولنی اټکلی زیرمه څومره او د وزرات نویو شمیرو له مخې یې اټکلی زیرمه څومره ده ؟

د کابل ښار جنوب ختیځ ته پروت دی د مسو اندازه یې ۱،۲ نه تر ۱،۵ پورې ده او اټکلی زیرمه یې ۴ میلیونه ټنه ده او د نویو شیمرو له مخې یې اټکلی زرمه ۱۱ نه تر ۱۳ میلیونه ټنه ښودل شوي .

✱ د هغو سیمو نومونه ولیکئ چې مس زیرمې د ارزښت وړ وي ؟

د مسو کان زیرمې د هرت په شیدا ، بادعیس ، فرا ، هلمند ، کابل ، غزنی بامیان ، غوربند ، اندراب ، بغلان او سرپل کې هم د ارزښت وړ دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سره زر

✱ د افغنستان په کومو سیمو کې سره زر شته او هم ولیکئ چې د هر یو ټن کانی توکو کې څومره سره زر شته ؟
مهم کانونه یې د بدخشان په یفتل او د غزنی په مقر کې شته او په هر ټن کانی توکو کې د ۱ څخه تر ۸۵ گرامو پورې سره زر شته .

## سپین زر

✱ د افعانستان په کومو سیمو کې سپین زر شته نومونه یې ولیکئ ؟
د سپینو زرو زیرمې په پنجشیر له عمرو څخه تر خاواک پورې هرات سیم کوه او د بی بی گوهر کوه په سیمه او د کندهار په خاکریز کې شته .

## د سربو او جستو کانونه

✱ د افعانستان په کومو سیمو کې د سربو او جستو زیرمې شته او هم د سربو او جستو اټکلي زیرمې ولیکئ ؟
په کندهار او د بی بی گوهر د سربو او جستو کان نوم اخیسلای شو چې ۲۱۱۰۰ ټنه جست او ۵۵۰۰ ټنه سرب بنودل شوی دي .

## د کرومو ډبرو کانونه

✱ د افعانستان په کومو سیمو کې شته او هم ولیکئ چې د حوست او د میدان وردک کرومو ډبرو کانونونو رایستلو کلنۍ اندازه څومره ده
د حوست ، میدان وردکو ، لوګر ، مخمد اغی کلنګار او د کندهار په سیمو کې شته ، د حوست د کرومو رایستلو کلنۍ اندازه ۷۳۰۰۰ ټنه ښودلې ده او د میدان وردکو هغه یې ۴۰۰۰۰ ټنه ښودلې ده .

## د فلزاتو کانونونو اقتصادي اهمیت

✱ کوم شرایط باید برابر شی چې فلزات په پراخه اندازه راویستل شي ؟
د هیواد فلزی زیرمې پانګی اچونی ، تخنیکي وسایلو ، د فنی پرسونل او د هیواد دننه او بهر د خرڅلاو بازار په چمتو کېدو سره په پراخه اندازه رایستل کېدای شي ؟
✱ د فلزاتو د ارزښتونو په اړه مغلومات ولیکئ او د هیواد په پرمختګ کې د فلزاتو رول څه شی دی ؟
فلزات ځانګړی اقتصادي ارزښت لري د کرنی ، سوداګری ، تخنیک او د ژوند په نورو چارو په برخو کې اقتصادی فعالیتونه پرمختګونه د فلزی صنایعو له پراختیا سره اړه لري ، فلزی زیرمې د هیواد صنعت کېدو د خلکو ژوند کچې لوړیدو او د اقتصادي پراختیا لپاره مهم دي .
✱ د هغو فلزاتو نومونه ولیکئ چې د زنګ ضد ځانګړتیاوی لری ؟
قلغی ، سرب او نکل د زنګ ضد ځانګړتیاوې لری .
✱ د فلزاتو څخه په کومو برخو کې کار اخیستل کېږي ؟
د سرو زرو څخه د ګاڼو او پولی واخد د پشنواني په توګه په بانکونو کې کار اخیستل کېږي او له سپینو زرو څخه په نقره یې مسکوکاتو او ګاڼو کې کار اخیستل کېږي اوسپنه د تخنیکي وسایلو لپاره او نور فلزات لکه المونیم مس چې د بریښنا او تودوخی د لیږدولو لپاره کار اخیستل کېږي .
✱ د مسو او جستو د یو ځای کېدو څخه څه په لاس راځي او څه شی ورڅخه جوړیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د د مسو او جستو د يوځای کيدو څخه برنج په لاس راځي او د سماوارونو ،چلمچي ګانو ، دروازو په دستګيرونو او نورو برنجی وسايلو په جوړلو کي ورڅخه کارخلی .

## د ودانی د ډبرو کانونه

✱ د هغو ډبرو نومونه وليکئ چي په ودانی کي ورڅخه کار اخستل کيږي ؟

ګرانيت ، بزلت ، متحوله ، رحام او د مرمر ډبرې په کي کاريږي .

## ګرانيت (خارا ) ډبري

✱ دا ډبرې د کومو منرالونو څخه جوړی دی او د هيوادپه کومو ځايونوکي شته او چېرته ورڅخه کار اخيستل کيږي ؟

دا ډبرې د درو منرالونو څخه جوړی دی ١ فلدسپار ٢ کوارتز ٣ مايکا چي ښی نمونی د دانا تر څنګ غرونو او نورو غرنيو سيمو ډبرو لکه سالنګونو کې تر لاسه کيږي د ودانيو په زينو ، تهدابونو ، بنستونو او سړکونو کي ور څخه کار اخيستل کيږي .

## بزلت ډبري

✱ د ا ډبرى چيرته وی او د افغانستان په کومو برخو کې پيدا کيږي د کومو منرالونو څخه جوړی او چيرته ور څخه کار اخيستل کيږی ؟

دا ډبرې د اور عورځونکو يا اتشفشان په غرونو کې پيدا کيږي د افغانستان په غرنيو سيمو کې شته د پيروکسين ، فلدسپار ، اليوين او ځيني نورو منرالونو څخه جوړی دی او د ودانيو په تهدابونو کې ور څخه کار اخيستل کيږي .

## متحوله ډبري

✱ د دې ډبرو د جوړښت په اړه مغلومات وليکئ ؟

په دريابونو کې د رسوب او اهکې ډبرو څخه رامينځته کيږي د وخت په تيريدو او د تودوخی له امله په مرمرو بدليږي او د دې ډبرو زخيرې زموږ په هيواد کې ډيری دی .

## د رخام او مرمرو ډبري

✱ د ا ډبرى څنګه مينځته راځي او کوم قسم ښکلا پيداکوي او دا ډبرى د افعانستان په کومو سيمو کې شته نومونه يی وليکئ او د دې ډبرو څخه په کومو شيانو کې استفاده کيږي ؟

حالص مرمر سپين رنګ لري دا اهکې ډبرى دی چې د فشار او تودوخی له امله يی بڼه بدلون کوي د پرې کيدو او تخنيکي پاليش په واسطه جلا او ښکلا پيدا کوي د ننګرهار په خوږيانو او اچين سيمه ، د هيرات ولايت د چشت په سيمه کې او د ميدان وردک د کوټه غشرو په سيمه کې د مرمرو ډبرى پيداکيږي د کابل په ولايت کې بادام باغ ريشخور ، قرغې او نره خيلو کې پيداکيږي ، د ودانيو په ښکلا د چايو خوړلو ميزونو ، لوښو ، زيارتونو او ختی د مجسمو په جوړولو کې په کاريږي .

## قيمتی ډبري

✱ د قيمتی ډبرو نومونه وليکئ ؟

قيمتی ډبرې لکه : الماس ، لاجورد ، لعل ، ياقوت څخه عبارت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الماس

❋ د الماسو د خواصو په اړه معلومات په څه شی کې ورځخه کار احیستل کیږي او د افغانستان په کومو سیمو کې پیدا کیږي ؟

الماس د نورو تیږو په پرتله ډیر کلکوالی او ټینګوالی او روښرنګ لري د جیولوژی پوهان وایی چې بدخشان په مرکزی سیمو ، لوګر او عوربند کې د الماسو د پیدا کېدو امکان شته . او د ځینو شیانو د تراشلو او پری کولو کې ورځخه کار احیستل کیږي .

## لاجورد

❋ د لاجوردو ایستل څو کاله پخوا په کوم ځای کې شروع شوي او په اوسني بڼه یی رایستل په کوم کال کې شروع شوي ؟

ډیر پخوا څلور زره یا پنځه زره کاله څخه یی د بدخشان د جرم ولسوالی د خضرت سغید په کلی کې ایستل پیل شوی خو په اوسنی بڼه یی تولید ۱۹۳۴ م کال څخه پیل شوي .

❋ په افغانستان کې د لاجوردو ټولی زیرمې څومره دی او یوازی د بدخشان سرسنګ کان زیرمې څومره اټکل شوی دی ؟

ټولی د لاجوردو زیرمې ۱۲۹۰تنه دی ۲۷ سیمو خیرنه شوی ده او د بدخشان سرسنګ کان زیرمې ۱۴۱ تنه لومړی درجه او ۶۵ تنه دوهمه درجه اټکل شوي دی .

❋ د افغانستان هغه لاجورد چې د لندن په موزیم کې کېښودل شول څو کاله پخوا ایستل شوي وو او په افغانستان کې هر کال څومره لاجورد رایستل کیږي ؟

هغه لاجورد چې د لندن په موزیم کې ایښودل شوي د افغانستان لاجورد دی چې ۳۸۰۰ کاله پخوا ایستل شوی . او په افغانستان کې هر کال ۵ ــ ۱۰ ټنو پوری لاجورد ایستل کیږي .

❋ لاجورد په کومو رنګونو پیدا کیږي د سوداګیریز بازار له پلوه په څو درجو ویشل شوی او د لاجوردو استعمال چیرته کیږي ؟

لاجورد په تیاره ابي ، روښان ابي ، تیز ابي او شنه روښانه رنګونو پیداکیږي ، د سوداګیریز بازار له پلوه په پنځه ډوله دی ۱ لومړی درجه ۲ دومه درجه ۳ دریمه درجه ۴ څلورمه درجه ۵ پنځه درجه . یوازی په ګاڼو او زینتي وسایلو کې کارول کیږي .

## لعل

❋ د لال کانونونه د افغانستان په کومو ځایونو کې بیدا کیږي او څه قسم رنګونه لري ؟

لال کانونونه په بدخشان په اشکاشم او د سروبي په جګدلک کې دی او د پیازي لال کانونونه د کندهار په حاکریز کې شته او سور ، بنفش ، شین ته ورته ابي او ژیر یا تور رنګونو پیدا کیږي .

## یاقوت

❋ یاقوت څه قسم خواص لري په کوم ځای کې پیداکیږي او رنګ یی څه قسم دي ؟

د پانی کېدلو وړتیا نه لری درجه یی سخته ده روښانه سور رنګ لرونکي او ځلا یی ښیښنی ته ورته ده د سروبي ولسوالی د جګدلک په سیمه کې په سور او ګلابي رنګونو پیدا کیږي .

## زمرد

❋ زمرد د افغانستان په کومو سیمو کې پیدا کیږي رنګ یی کوم قسم او زیرمې څومره اټکل شوي ؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
زمرد کانونونه د پنجشیر د خنج بزمال او مکني په سیمو کې پیدا کیږي او د کونړ په باډیل دره کې هم شته دی د پنجشیر زمرد شین رنګ او ځینی نور ابي ډوله رنګونه لري او زیرمې یې ۴۴۰ کیلو ګرامه اټکل شوی دی .

## په افغانستان کې صنایع او د هغو اهمیت

✱ صنعت تعریف کړي ؟
صنعت یو تولیدی فعالیت دی چې د غه په ترڅ کې له هغو لومړنیو یا حامو توکو څخه چې د ځمکې تر لاسه کیږي اړتیا وړ شیان او اجناس جوړیږي .
✱ د صنعتی فعالیت یوه بیلګه تشریح کړي ؟
د لومړنیو یا حامو موادو لکه د کاني توکو ، کرنیزو تولیداتو او نورو د بڼې بدلون تر څو په وروستیو صنعتی پخو اجناسو واړول شي .
✱ د ماشیني صنعتی ارزښت په څه کې دي ؟
د صنایغو په تیره بیا د ماشینی صنایغو ارزښت په دې کې دي چې په لږ وخت کې ډیروموادو بڼې ته بدلون ورکوي د هغو په څرنګوالی او بیه کې لوړوالی راځي .
✱ زمونږ هیوادوال د پخوا راهیسی په کومو لاسی دستګاوو کې په صنایغو بوخت وو .
زمونږ هیواد وال له ډیر پخوا څخه په کوچنیو لاسی دستګاه کې په لاسی صنایغو بوخت وه لکه : عالی جوړول ، لمڅی ، ټغرونه او نور د اړتیا وړ شیان یی ځانته جوړول .
✱ باید کوم شرایط برابر شي چې زمونږ زیات شمیر ضروری اجناس او مالونه د هیواد دننه تولید شي؟
ملی صنایغو د ملاتړ لپاره غوره اقتصادي پالیسی څخه کار واخلی د فابریکو او کار ځایونو جوړولو ته شرایط برابر شي نو زیات شمیر اجناس او مالونه به د هیواد دننه تولید او ملی عاید به لا اوچت شي .
✱ صنایع په څو ډوله دي ؟
په دوه ډوله دی اول لاسی او دوهم ماشینی .

## لاسي صنایع

✱ زموږ د هیواد کلیوالی صنعت کارانو به د صنعت په خاطر د کومو موادو نه کار احیسته .
کلیوالی صنعت کارانو به د څارویو څخه تر لاسه کیدونکو لومړنیو توکو لکه : وړیو ، ویښتانو او د وریښمو د چینجیو له تارونو او نورو څخه کار اخیسته .
د نباتی توکو لکه : پنبې ، کتان او سنډو
کاني توکو لکه : اوسپنې ، مس ، سرو او سپینو زرو او له ختو او نورو څخه .
✱ د څارویو الیافو څخه کوم مشهور شیان جوړول ؟
هغه د لاسي صنایغو محصولات چې د څارویو د الیافو څخه جوړیږي مشهور یې غالی ، لیمڅی ، برک ، ټغر ، شړۍ او نور دي .
✱ د لاسي صنایغو هغه محصولات چې د مالوچو څخه برابریږي تشریح کړي ؟
د لاسي صنایغو هغه محصولات چې د مالوچو څخه جوړیږي دا دي : کرباس ، رختونه ، کشمیره ، پټو ، لونګی ، سطرنجی او نور .
✱ زرګرانو ، مسګرانو او پښانو له فلزاتو څخه کوم شیان جوړول ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
زرګرانو ، مسګرانو او پښانو له فلزاتو څخه د کار وړ شیان جوړول لکه : یوم ، تبر ، تیشه ، چاقو ، چاړه او مسي لوښي جوړه وله لکه دیګونه او نور او ګاڼي له سرو زرو او سپینو زرو او قیمتي ډبرو لکه لاجوردو او یاقوتو څخه جوړیږي .

## ماشیني صنایع

✱ په افغانستان کې ماشیني صنایع د کوم امیر په خت کې رامینځته شوي او پرمختللي بڼه یې د کوم امیر په وخت کې رامینځته شوه د نوموړی کارخانې نوم څه وه او په دې کارخانه کې کوم شیان جوړیدل ؟

نوې ماشیني صنایع او عصري فابریکې د لومړی ځل لپاره په ۱۸۷۸ م کال کې د امیر شیرعلي خان پر مهال او لږ څه وروسته  په پرمختللی بڼه د امیر غبدالرخمن خان پر مهال د نولسمې پیړي په وروستیو کې په هیواد کې رامینځته شو . نوم یې د کابل ماشین خانې وه او په دې کې د توپ ، ټوپک او حربي مهماتو او سرې او تودې وسلې په ګډون حربي مهمات تولید او جوړیدل .

✱ په ۱۳۶۵ ه ل کال  په افغانستان کې څو صنعتي فابریکې فعاله وې د دې جملې څخه څو خصوصی او څو دولتی او مختلط سکتور وې ؟

په ۱۳۶۵ ه ل کال کې په هیواد کې ۳۹۱ صنغتي موسسې فعالې او په کار بوختی وې چې له هغو څخه ۲۷۴ د حصوصي سکتور او پاتی ۱۱۷ یې دولتی او مختلط سکتور وې .

✱ د ماشني صنایعو په کوم ځای کې د رامینځته کېدو امکان شته ؟

په هغو ځایونو کې چې بریښنا او کې شمیر خلک وي لکه : کابل ، هرات ، مزارشریف ، کندهار ، کندز او ننګرهار .

✱ زموږ د هیواد ماشیني صنایع د کومو لاملونو له وجې ځنډ او خنډ سره مخ دي ؟

زموږ په هیواد کې د ۳۰ کلنو جګړو له امله .

## د توریزم او د هغه اقصادي ارزښت

✱ توریزم تغریف کړي ؟

توریزم یا ګرځندویان یو ډول مسافرت او ګرځېدل دي چې موخه یې د بیلا بیلو سیمو علمي څیړنه ، کتنه ، تفریح ، سیل او سیاخت دي .

✱ ګرځندوی څوک دي ؟

یو ګرځندوی هغه څوک دی چې د خپل اوسیدو ځای څخه بهر نورو سیمو ، ښارونو او هیوادونو ته داسي یو سفر وکړي چې د یوې   ورځې کم نه وي او د یو کال څخه زیات نه وي .

✱ هیوادونه څنګه کولای شي چې د ګرځندوی له پلوه عایدات تر لاسه کړي ؟

نن ورځ زیات شمیر  هیوادونه هڅه کوي چې په خپلو  هیوادونو کې د ګرځندوی د ودې او پراختیا لپاره امکانات چمتو او پراخ کړي دا ځکه چې ګرځندوی د عایداتو د تر لاسه کولو یوه لاره ده .

✱ د ګرځندویو په ارتباط افغانستان د کوم ځانګړي موقیعت لرونکي دي ؟

افغانستان په اسیا کې یوه ځانګړي جغرافیی  موقیعت ، تاریخی ، لرغونتوب ، پخوانیو ودانیو ، ښکلي طبیغت ، غوره هوا او د ګرځندوي سیمو په لرلو سره ځانګړي موقیغت لري او په پخوانیو کلنو کې د وریښمو د کاروانونو د سوداګریز اندیو د وړلو او راوړلو یوه لاره وه او بودایان او کوشانیان له همدی لاری چین څخه د اروپا لویدیځ پوری تګ را تګ کاوه .

✱ د ګرځندویو موسسه په افغانستان کې په کوم کال جوړه شوی او په کوم کال یی د ګرځندوی نړي وال سازمان غړیتوب تر لاسه کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
د افغانستان دولت په ۱۳۳۷ ه کال کې د ګرځندوی موسسه (اوسنی افغان تور ) په دې برخه کې د اسانتیاوو د رامینځته کولو په خاطر جوړه او په ۱۳۴۴ ه ل کال کې د ګرځندوی نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ.

✱ د افغانستان کوم سیمی د ګرځندوی توجو وړ دی او ګرځندویان ورته ورځي ؟

په بامیانو کې د بودا مجسمی او نور تاریخي اثار د بلخ د لرغونی ښار اثار ، خیبر دره ، په هرات کې زیات شمیر تاریخي اثار او همدارنګه په کندهار ، عزنی او ننګرهار کې شته .

## د هیواد ګرځندوی سیمي

✱ هغه طبغی ځایونه او نور مشخص ځایونه چې ګرځندویان ورځي په ګوته کړي ؟

د افغانستان ګرځندوی سیمی زیاتره طبغی ښکلی ځایونه ښایسته شرشرې ، د سیندونو په زړه پوری غاړې ، ولاړی اوبه ، غرونه اونور او همدارنګه کلتوری سیمی او اثار موزیمونه مذهبی او تاریخی ودانۍ او د لاسی صنایعو بازارونه او نور دی .

✱ په افغانستان کې مهم ګرځندوی سیمی او ښارونه ولیکئ ؟

د افغانستان مهم ګرځندوی سیمی او ښارونه په لاندی ډول دی .

بامیان ، بلخ ، سمنګان ، هرات ، عور ، عزنی ، کندهار ، کابل ، جلال اباد ، لښکرګاه او نور .

## سوداګري او اهمیت یی

✱ سوداګري څه شی دی تشریخ یی کړي ؟

سوداګري په خقیقت کې د شیانو او خدماتو تبادله کول دي چې د پیرودونکي او پلرونکي تر مینځ د پولی کریدیت له مخې یو څخه بل ته سپارل کیږي کله چې تولید شوی اضافی اجناس او خدمات د تبادلی لپاره وړاندي شي سوداګری ورته ویل کیږي .

✱ اجناس او خدمات د کومو شرایطو د چمتو کولو له مخی تبادله کیږي ؟

اجناس او خدمات هغه وخت تبادله کیږي چې لاندیني شرایط چمتو شي .

1. د اجناسو اضافي تولیدترسره شوی وي .
2. په ټاکلي خرفه او ځانګه کې تخصص را مینځ ته شوي وي .
3. تولید د کار د ویش پړاو ته رسیدلی وي .
4. د دوو سیمو د تولیداتو د ډولونو تر مینځ توپیر ولیدل شي .
5. سیاسي ، کلتوري او ګمرکي خنډونه نه وي .
6. د لیږدولو د دوو سیمو تر مینځ به وسایل او لارې او د اړیکو ټینګولو په خاطر ډیرې ښې چارې چمتو وي .
7. د دواړو سیمو وګړي یو د بل اجناسوته اړتیا او لیوالتیا ولري .

✱ خلک کله په سوداګري لاس پورې کوي ؟

خلک څکه په سوداګري لاس پوری کوی چې خپل تولید شوی اجناس په نورو سیمو کې وپلوري او یا هم هغه څه چې دوی یی پخپله نشي تولیدولی او یایی په خپله سیمه کې د تولید شوي بیئ پرتله په ارزانه له بلې سیمي څخه پیرودلای شي تر لاسه کړي .

✱ په افغانستان کې ولی خلکو ډیر پخوا څخه په سوداګري او راکوه ورکړه بوخت وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې له ډیر پخوا څخه د هغه د جغرافیی اهمیت له مخې چې په دغه سیمه کې لري او دا چې د هغه وخت د تمدن په څلور لاره کې پروت وه یغنی ختیځ ته یې د هند او چین تمدن او لویدیځ ته یې د یونان او روم تمدن و . نو اضافي تولید دلته رامینځته کیده او د دې هیواد خلکو سوداګري او راکړه ورکړه کوله .

✱ مخکې تر دې چې سمندري لارې وپیژندل شي خلکو د وچې له لارې په کومه طریقه سوداګري کوله ؟

مخکې تر دې چې سمندري لارې وپیژندل شي د سوداګریزو توکو او مالونو وړل را وړل ټول د وچې لارې په کاروانونو ترسره کېدل هغه مهال د مالونو تبادله او لېږدول د کاروانونو په واسطه د ختیځ او لویدیځ تر مینځ یعنې د مدیترانې د سمندرګې د ختیځو غاړو څخه تر چین پورې ترسره کېدل .

✱ د افغانستان د بهرنۍ سوداګرې د بیلانس توازن یعنی واردات څو واري د صادراتو څخه زیات دی لامل یې څه دی ولیکئ ؟

د یادونې وړ ده چې افغانستان د بهرنۍ سوداګرو بیلانس توزون نه لري د وارداتو له کچې یې د صادراتو له کچې څو واري زیاته ده چې ډیر لږ کورني تولیدات او د کمزوري اقتصاد څرګندونه کوي د دې ټکي عمده عامل څو کلنه کورني جګړه ده .

## کورني سوداګري

✱ هغه علتونه ولیکئ چې نن ورځ د افغانستان دننه سوداګري پراخه شوي ده ؟

نن ورځ د افغانستان دننه سوداګري ښه پراخه ده علت یې د نفسو ډیروالی ، د ژوند د کچې نسبتی لوړیدل ، او خوراکي توکي ، صنعتی او خدماتی اجناسو او وسایلو ته د خلکو د ورځ په ورځ د اړتیا زیاتوالی دي .

✱ د افغانستان دننه سوداګری یو څو بیلګې ولیکئ ؟

د دې بیلګه : عالې دي چې زیاتره د هیواد په شمالی برخو کې تولیدیږی چې نه یوازی د هیواد دننه بازارونو کې پلورل کیږي بلکې یو مهم صادرایتی قلم هم دي .

✱ د افغانستان خلک ولی د پخوا څخه اوس زیاتو واریدیتی مالونو او اجناسو ته اړ شو ؟

د یادونې وړ ده چې وروستیو دیرش کلنو جګړو کې د هیواد ټول اقتصادی ، تولنیز ، اداري او سیاسی بنسټونه ویجاړ او د سوداګري ته هم زیات زیان واوښت او هم افعانان تر پخوا زیات واردتی مالونو او اجناسو ته اړ شول .

✱ کوم کارونه ترسره شي تر څو د افغانستان دننه سوداګري د پرمختګ لامل وګرځي ؟

د نیکه مرغه په دې وروستیو کې د یو شمیر موسسو د بیارغونې کار پیل شوي دي یو شمیر یی حصوصي سکتور ته ورکړل شوي او بیا په فعالیت باندي پیل کړي دي همدارنګه د مواصلاتی کرښو او سړکونو بیارعونه هم پیل شوي ده سوداګریز نوی سیاست او قوانین رامینځ ته شوي چې دا ټول به د کورنی سوداګري د پرمختګ لامل شي .

## بهرنۍ سوداګري

✱ د افغانستان بهرنۍ سوداګري په څو حوزو کې ترسره کېده هره حوزه یی تشریح کړي ؟

په دریو خوزوکې تر سره کېده .

1. د بارتر سوداګري حوزه : جنس د جنس په وړاندی تبادلې ته بارتر ویل کیږي دغه ډول سوداګري د مالونو د بدلولو په توګه پخوا د افغانستان او یو شمیر سوسیالستي هیوادونو له پخواني شوروي اتحاد ، پولنډ ، چکوسلواکیا ، چین ، بلغاریا او نورو سره و .
2. ازاده حوزه : چې لویدیځي اروپا ، د امریکې متحده ایالتونو او جاپان سره وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library
3. د هند د نیمي وچې سره سوداګري حوزه : د هند د وچې سره افغانستان سوداګري ډیره اوږده تاریخي ریښه لري چې د وخت په تیریدو سره یې پراختیا موندلی ده .

✱ د افغانستان په بهرنی سوداګری سیستم کې څه وخت بدلون راغلي ؟

د پخواني شوروي اتحاد له ړنګیدو وروسته په ختیځه اروپا کې د سیاسی رژیمونو له مینځه تلو او افغانستان د بهرنۍ اقتصادي او سوداګریز نوی سیاست پیل کېدو وروسته د هیواد د سوداګري په سیستم کې بدلون راغلي .

✱ د افغانستان صادرتي توکي کوم دي نومونه یې ولیکئ ؟

د افغانستان صادرتي توکي یو شمیر حوراکي او حام توکي لکه : وچې او تازه میوې مالوچ د ځارویو محصولات لکه : وړی او اوزغنۍ پوستکې قره قل او کولمي او یو شمیر صنغتی توکي لکه : عالیٔ او تغرونه لاسی صنایع او ګرانبیه ډبري دي .

✱ هغه مالونه چې له بهر څخه افغانستان ته راځی کوم دی نومونه یی ولیکئ ؟

هغه مالونه چې د بهر څخه افغانستان ته راځي زیاتره یی استهلاکي مالونه او نور دی لکه : ترانسپورتي وسایط ، ماشینونه ، نفتي مواد ، روغنیات ، کېمیاوي مواد او خوراکي توکي لکه : غنم ، چای ، بوره ، عوړي او منسوجات لکه : جامې ، درمل او نور .

## بانک

✱ بانک څه ته وایي تعریف یی کړي ؟

بانک هغه اداره یا خقوقي شخصیت دي چې له عامو خلکو او دولتي ارګانونو څخه پیسي احلي ساتي یی او په دوران کې اچوي .

✱ بانکونه په څو ډوله دي نومونه یی ولیکئ ؟

بانکونه په دری ډوله دي 1 مرکزي بانک 2 سوداګریز بانک 3 شخصی بانک .

✱ په افغانستان کې مرکزی کوم بانک دي په کوم کال جوړ شوي او لومړي سرمایه یی څومره وه ؟

په افغانستان کې (د افغانستان بانک ) مرکزي بانک دی چې په ۱۳۱۸ ه ل کال کې د وري په میاشت کې د ۱۲۰ میلیونو افغانیو په ارزښت په کار پیل وکړ .

✱ مرکزي بانک په عمومي توګه کومي دندې سرته رسوي ؟

په غمومي توګه لاندې دندې سر ته رسوي . 1 د بانک نوټونو خپرول 2 د اسعارو کنترول 3 د نورو بانکونو څارنه 4 د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د داخلی یا ملي پیسو ارزښت ثابت ساتل 5 په غوره توګه د استخدام لوري ته د اقتصاد لاربنونه او داسې نوري دندې دي .

✱ سوداګریز بانکونه کومي چاري سرته رسوي ؟

سوداګریز بانکونه هغو بانکونو ته ویل کېږي چې د لنډي مودي عملیات او د امانتونو دندې پر مخ بیایی او صنغت کرنه د ودانیو په جوړولو او نورو چارو کې د پانګې اچونې دندې هم پر مخ بیایی .

✱ تخصصي بانکونه کوم چاري ترسره کوي ؟

په ځانګړو برخو لکه : په صنعت ، کرنه او نورو کې فعالیت کوي او په همدغو برخو کې دندې پرمخ بیایی چې ښې بیلګي یی صنغتی بانک ، کرنیز بانک او رهني بانک دي .

## د بانک د چارو د پرمخ بیولو څرنګوالی

✱ په ۱۳۰۹ هـ ش کال څخه مخکې په افغانستان کې بانکي چاري څنګه پر مخ تللي ؟

په ۱۳۰۹ هـ ش کال څخه مخکې د بانکونو ټولي چاري صرافانو پر مخ بیولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ په افغانستان کې لومړي بانک کوم نوم تاسیس او لومړي سرمیه یې څومره وه ؟
د لومړي ځل لپاره په ۱۳۰۹ هـ ش کال کې د افغانستان سهامي بانک د یوه سهامي شرکت په توګه جوړ شو . او سرمایه یې اته (8 ) میلیونه افغاني وه چې وروسته بیا په ملي بانک واوښت .
✱ په تیر وخت کې په افغانستان کې کومو تخصصي بانکونو شتون درلوده ؟
رهني بانک ، کرنیز بانک ، صنعتي پراختیا بانک ، صادراتی بانک ، تعمیراتي بانک ، پښتني تجارتي بانک او داسي نور .
✱ په افغانستان کې د حصوصي بانکونو مهم فعالیتونه کوم وه ولیکئ ؟
= د اماناتو منل
= د جاری حسابونو پرانستل
= د کریډیت یا پورونو ورکړه
= پولي انتقالات
= قیمتي اجناسو او ګاڼو ساتل
= د اسعاری معاملو ترسره کول
= دولت ته د بانکي خدمتونو تر سره کول .

## د صنایعو او سوداګری د خالت څرنګوالی

✱ زموږ په هیواد کې د صنایعو د انکشاف لپاره غوره امکانات کوم دی ؟
افغانستان د خپلی ځمکې د جوړښت او بنې ، کانی زیرمو یا تر ځمکې لاندې سر چینو ، د ځمکې د مخ سرچینو یغنی د نباتي او څارویو د سرچینو ، په سیندونو کې د روانو اوبو ، د هوا د برابر والی او نورو طبیغی ځانګړتیاوو له مخی او د پوره بشري ځواک د شتوالی له مخې د نن ورځې د صنایعو د پرمختګ او پراختیا لپاره ډیر غوره امکانات لري .
✱ د صنغت او خدمت په برخه کې څو فیصده فعال اقتصادي نفوس مصروف دی ؟
د صنغت او خدمت په برخه کې په سلو کې لس فیصده فغال اقتصادی نفوس مصروف دي .
✱ په ۱۳۸۶ هـ ل کال کې د افغانستان صادرات او وردات څومره وه ؟
۱۳۸۶ هـ ل کال کې افغانستان وردات ۳۰۲۲ میلیونه ډالر وو خو صادرات یې یو یوازي ۴۵۴ میلیونه ډالر وو .
✱ په کوم وخت کې به خلک په صنغت او خدماتو په سکتورونو کې لا زیات بوخت شی ؟
د هیواد د اوبو سرچینو اغظمي استفادي وشي د هیواد لاسی صنایغ وهڅول شي .
✱ زموږ د هیواد د سوداګری او صنایعو په مخ کې کومي ستونزي او خنډونه موجود دی ولیکئ ؟
په افغانستان کې د یوي اوږدي مودې په ترڅ کې په تیرو وختونو کې د زبرځواکونو تر مینځ سیالي د پانګې اچونې په مخ کې خنډ ګرځیدلی وه ، د دې تر څنګ دیرش کلنو جګړو هم یو خنډ وه .

## په نړۍ کې اوبه او په هغه باندې پانګه اچونه

✱ زموږ په ژوند کې اوبه څه ارزښت لری او همدارنګه د ځمکي پرمخ د اوبو ویش څه رقم دی ؟
اوبه زموږ په ژوند کې ځانګړی ارزښت لري پرته له اوبو څخه ونې بوټی ، څاروي ، انسانان او هر ژوندی شی پاتی کېدې نه شی اوبه په ټوله ځمکه برابری او یوشان ویشل شوي نه دي .
✱ د ځمکې پر مخ څو سلنه اوبه دی او واضغ کړی چې څو سلنه یې خوږې او څو سلنه یې تروې دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې پر مخ ۷۰ سلنه اوبه دی د هغو څخه په سلو کې ۹۷ برخې په سمندرونو او سمندرګیو کې چې مالګینې او فصلو او کرنې ته برابرې نه دی او په سلو کې ۳ خوږې دي .

✱ انسانان خوږو اوبو ته اړتیا لری خپله اړتیا څنګه پوره کوی ؟

اوبه باید پاکې او چاڼ شی د اوبو د چاڼ کولو په خاطر باید د خوږو اوبو د تاسیساتو په جوړولو پانګه ولګول شي .

✱ په نړۍ کې کوم هیوادونه د څښلو لپاره د پاکو اوبو له کمښت سره مخامخ دي ؟

یو شمیر زیات پرمختیایی هیوادونه په تیره بیا اسیا او افریقا کې د څښلو پاکو اوبو د کمښت سره مخامخ دي .

✱ د پاکو او وړ اوبو د چمتو کولو لپاره په کومه برخه کې پانګې اچونې ته اړتیا ده ؟

په لاندینو برخو کې پانګې اچونې ته اړتیا ده ۱ د ځمکې مخ اوبو را ټولول او د ځمکې لاندې اوبو څخه ګټه اخیستل ، ۲ د اختمالی ککړوالی د له مینځه وړلو په موخه د اوبو چاڼول ۳ د اوبو لیږد د نل لیکه کانالونو او تاسیساتو څارنه .

✱ مکسیکو په کومه طریقه خپلو اړو سیمو ته اوبه رسوي واضغ یې کړی ؟

مکسیکو په ښار کې اوبه ۱۲۵ کېلو متره په واټن په نل لیکه کې لیږدول کیږی ۱۲۰۰ مترو لوړو غرونو څخه هاخوا اړول کیږي د پمپ په واسطه اړو سیمو ته رسول کیږي .

## اوبو لګولو لویې پروژې

✱ د ټولو اوبو څخه په سلو کې څو خوږې اوبه دي ؟

د ټولو اوبو څخه په سلو کې درې فیصده خوږې دي .

✱ د کومې پیړې په کومو کلونو کې احساس شوه چې اوبه کمښت یوه لویه ستونزه ده ؟

د شلمې پیړې د نوییمو کلونو په پای کې د نړۍ په کچه احساس شوه چې د ځمکې پر مخ اوبو کمښت لویه ستونزه ده .

✱ د څو ملی مترو باران په وریدو سره کرنه ترسره کېدی شي ؟

۴۵۰ ملی مترو باران په وریدو سره کرنه ترسره کېدای شي .

✱ په سلو کې څو فیصده مخصولات د کرنیزو ځمکو په خړبولو سره تر لاسه کیږي ؟

په سلو کې ۳۸ فیصده مخصولات د کرنیزو ځمکو په خړبولو سره تر لاسه کیږي.

✱ د یو کېلو ګرام غنمو ترلاسه کولو لپاره څو لیټره اوبو ته اړتیا ده ؟

د یو کېلو ګرام غنمو ترلاسه کولو لپاره ۱۰۰۰ لیټره اوبو ته اړتیا ده .

✱ هغه هیوادونه چې د اوبو له کمښت سره مخامخ دی د اوبو د ضایعاتو څخه څنګه مخنیوي کوي ؟

اسرئیل دی د دې لپاره چې د اوبو له لاسه ورکولو او براس کېدو څخه مخنیوي وشی د پایپ واسطه د هر جلا جلا بوټی ریښو ته اوبه رسوي او هغه شمیر هیوادونه چې پوره اوربښت نه لري د خپلو کرنیزو ځمکو د خړبولو لپاره د اوبو لګلولوبیلا بیل سیستمونه یې جوړ کړي دي .

## اوبو چاڼول

✱ په کوم خالت کې انسانان نه شی کولای چې له اوبو څخه سمه ګټه واخلی ؟

په اوبو کې فزیکي ، کېمیاوي او میکروبی بدلولونه دي چې د هغی په پیښدو سره انسانان نه شی کولای له اوبو څخه سمه او روغتیایی ګټه واخلی .

✱ کوم لاملونه د اوبو د ککړتیا او توديدو لامل ګرځي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
انسانان د خپل بي سنجشه غملونو له امله اوبو ککړتیا لامل کیږي له کورونو او تاسیساتو څخه په اوبو د ناپاکېو وراچول د صنعتی فابریکو فاضله اوبو ورګډول ، د کورونو او روغتونونو څخه ، ناپاکو اوبو ورګډول ، او تودوخه د کارخانو او ماشینونو له امله اوبو کې ور زغمل کیږي .

✱ د کومی طریقی په استعمال سره اوبه د څښلو وړ ګرځي ؟

د چاڼ طریقي په استعمال سره اوبه د څښلو وړ ګرځي .

✱ په لویدیځو هیوادونو کې د ناپاکو اوبو څخه څنګه پاکي اوبه ترلاسه کوي ؟

په لویدیځو هیوادونو کې د ناولو اوبو فاضلابونو څحه د بیا دوران په بڼه د څښلو اوبه ترلاسه کوي چې د جلا چڼ ځای په واسطه د څو څو پړاوونو په ترڅ کې ښاریانو ته بیا د استفادې وړ ګرځي .

## کرنه او د هغې نوی لاری – چاري

✱ د انسانانو اړتیا وړ شیان کوم دی نومونه یی ولیکئ ؟

د انسانانو اړتیا وړ شیان په لاندې ډول دي

خوراک ، پوښاک ، او د ژوند پر مخ بیولو وسایل ، او د سون توکي او داسی نور .

✱ په نړۍ کې څومره خلک په خوارځواکې اخته دي او څومره خلک د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخ دي ؟

په ټوله نړۍ کې ۸۰۰ میلیونه تنو څخه زیات په خوارځواکې اخته دي او د دوه میلیونو څخه زیات وګړي د خوراکي توکو له کمښت سره مخامخ دي .

✱ په نړۍ کې د کرني سیستم په څو ډوله دی ولیکئ ؟

په دوه ډوله دی ۱ غنغوي یا دودیز سیستم ۲ تجارتې یا میکانیزه سیستم .

✱ د کرنی دودیز سیستم په اړه مغلومات ولیکئ ؟

په مغیشتی دودیز کرنیز سیستم کې د انسانی ځواک او وروسته پاتی لومړنیو وسایلو څخه کار اخیستل کیږي اود دهقان مقصد صرف د خپلو ضرویاتو پوره کول دي.

✱ د کرني تجارتي یا میکانیزه سیستم په اړه مغلومات ولیکئ ؟

په دغه سیستم کې د کرنی له پرمختللو لارو – چارو او نورو وسایلو لکه تراکتور ، کمپاین ، اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې څخه کار اخیستل کیږي کرنیزي کروندی پراحه وی او د تولید اندازه پوره زیاته وي او د دهقان مقصد د یو اندازه حاصل بازارته غرض کول دي.

## د نړۍ په پرمختللو هیوادونو کې د کرنیزو تولیداتو د بیلابیلو دولونو اندازه

✱ په ۲۰۰۵ م کال کې په نړۍ کې څومره غنم تولید شوي ؟

په ۲۰۰۵ م کال کې په نړۍ کې ۶۲۸۱۰۱۰۳۵ ټنه غنم تولید شوي وه .

✱ په ۲۰۰۵ م کال کې په نړۍ کې د وریجو او جوارو تولیدات څومره وه ؟

په ۲۰۰۵ م کال کې په نړۍ کې د جوارو د تولید اندازه ۳۲۱۰۶۰۸۵۲ دي

په ۲۰۰۵ م کال کې په نړۍ کې د وریجو د تولید اندازه ۶۹۴۵۷۵۵۵۲ دي

✱ په ۲۰۰۵ م کال کې د غوښی او کچالو تولید اندازه څومره وه ولیکئ ؟

په ۲۰۰۵ م کال کې په نړۍ کې د غوښی او کچالو د تولید اندازه ۲۶۵۱۰۵۹۴۰ دي.

## انرژي او په نړۍ کې د هغې اهمیت

✱ انرژي تغریف کړي ؟

د کارکولو توان ته انرژي ویل کیږي او هر هغه ته چې د کار کولو توان ولري انرژي ویل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ په پخوا زمانه کې انسانانو انرژي څنګه استفاده کوله ؟

په پخوا رمانه کې انسانانو د انرژي څخه په کورونو ، تودوخي ، رڼا ، پخلي او د تودولو لپاره کار اخیستل.

✱ په کومو پیریو کې انسانانو د انرژي څخه ګټه اخیستل زیات کړل ؟

په مینځنیو پیریو کې د انرژي له سر چینو څخه کار اخیستل زیات اهمیت وموند .

✱ په شلمه میلادي پیړۍ کې کومو سرچینو چټک پرمختګ وکړ ؟

په شلمه میلادي پیړۍ کې ګاز او نفت سرچینو چټک پرمختګ وکړ .

✱ د انرژي د تولید سرچینې کومي دي نومونه یې ولیکئ ؟

د ډبرو سکاره ، ګاز ، اوبه ، نفت او لمر .

## د انرژي دولونه

✱ په پخوا زمانه کې انسانانو د کومي انرژي څخه کار اخیستل ؟

په پخوا زمانه کې انسانانو د باد او اوبو څخه زیات کار اخیسته .

برېښنا

د برېښنا انرژي د کومو سرچینو څخه په لاس راځي ؟

د برېښنا انرژي له بیلا بیلو سرچینو څخه تر لاسه کېږي لکه : لمریزه ، هسته یی ، اوبو ، باد او خرارتي برېښنا .

✱ هغه عوامل چې د اوبو د برېښنا په تولید کې مهم رول لري کوم دي ولیکئ ؟

هغه عوامل چې د اوبو د برېښنا په تولید کې مهم رول لري دا دي

۱ـ د سیند اوبو زیاتوالي ، دایمي والی او جاري توب .

۲ـ د سیند په تګلوري کې د پوره ځوړونو شتوالي .

۳ ـ د سیند په تګلوري کې د لوړو برخو شتوالي .

✱ د برېښنا لیږدول له یوي سیمي څخه تر بلي سیمي پوري څه ډول دي او د برېښنا لویه نیمګړتیا څه ده ؟

د برېښنا لیږدول د یوي سیمي څخه تر بلي سیمي په ډیر ګړندیتوب ترسره کېږي خو د برېښنا لویه نیمګړتیا دا ده چې وروسته تر تولید څخه زیرمه کېدای نه شي او د تولید سره یوځای مصرفیږي .

✱ په نړۍ کې  د هغو پنځو سیمو نومونه ولیکئ چې تر ټولو زیات د اوبو پرمختللي ځواک لري ؟

په اروپا کې لویدیځي جنوبي او مرکزي سیمي ، په اسیا کې جاپان او په امریکي کې د امریکا متخده ایالتونه . او هغه یو شمیر نوري سیمي چې له دې پلوه ډیر اهمیت لري د روسیې اروپایی برخه او د برازیل د ختیځ  غرنی سیمې دي .

## بادي برېښنا

✱ د بادي برېښنا تولیدونکې وچې کومي دي ولیکئ ؟

امریکا ، افریقا او اسیا دي .

اروپا په سلو کې څو ، امریکا په سلو کې څو  ، اسیا په سلو کې څو بادي برېښنا تولید کوي ؟

اروپا په سلو کې  ۶۵ ، امریکا په سلو کې ۲۲ او اسیا  په سلو کې ۱۲ بادې برېښنا تولیدوي.

## لمریزه برېښنا

✱ د لمریزې برېښنا څخه ولي تل او پراخه کار نه اخیستل کېږي ؟

ځکه چې کله د لمر وړانګي وي او کله نه وي نو له همدي کبله ورڅخه تل او پراخه ګټه نه اخیستل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هسته يی بريښنا

د هسته يی بريښنا کارخاني په کومو هيوادونو کې جوړي شوی نومونه يی وليکئ ؟
انګلستان ، جنوبي کوريا ، چين ، هند ، المان او کاناډا کې جوړي شوی دي .
✱ د هسته يی بريښنا ضررونه کوم دي او په څه شي باندي اثر کوي ؟
د هسته يی بريښنا يو لوي خطر د راديو اکتيف وړانګو ازاديدل دي دغه توکي کېدای شي په هوا اوبو او سمندرونو کې خپاره شي او په زرګونو متره ځای ونيسي د دغو توکو ډيره لږه اندازه د وحشي ژويو ، ونو ، بوټو اود انسانانو ژوند ته زيان رسوي او زياته اندازه يی د مرګ لامل ګرځي .
✱ د هسته يی بريښنا لومړي درجه ، دوهمه درجه ، دريمه درجه او څلورمه درجه هيوادونه کوم دي نومونه يی وليکئ ؟
امريکا متحده ايالت لومړي درجه ، فرانسه دوهمه درجه ، جاپان دريمه درجه او روسيه څلورمه درجه دي .

## خرارتي بريښنا

✱ خرارتي بريښنا د څه شي څخه په لاس راځي ؟
خرارتي بريښنا د ګازو او د ډبرو سکارو څخه په لاس راځي .
✱ د خرارتي بريښنا منابعو څخه مهمه منابع کومه يوه ده وليکئ ؟
د خرارتي بريښنا له منابعو څخه مهمه منبع د ډبروسکاره دي چې د هغي څخه په سلو کې پنځوس برخي بريښنا ترلاسه کيږي .
✱ ډبروسکارو ته ترڅو کالوريو پوري خرارت ورکړل شي تر څو يو کېلو واټ بريښنا توليد شي ؟
که يو کېلو او څلورسوه او پنځوس ګرامه ډبروسکارو ته تر اووه زره کالوريو پوري تودوخه ورکړل شي يو کېلو واټ بريښنا توليدوي .
✱ د امريکا متخده ايالت د ډبرو سکارو، نفتو او ګازو څخه څو فيصده بريښنا ترلاسه کوي ؟
د امريکا په متحده ايالت کې توليد شوي ټولي بريښنا څخه په سلو کې ٪۵۰ د ډبروسکارو څخه ، او په سلو کې ٪۱۴ له طبيعي ګاز څخه او په سلو کې ٪۱۱ د نفتو څخه تر لاسه کوي .
✱ کوم عربی هيوادونه خرارتي بريښنا د نفتو له سوزلو څخه تر لاسه کوي ؟
عربستان ، کويټه ، اردن ، قطر ، بخرين او نور دي .

## نفت

✱ نفت څه شي دي واضح يی کړي ؟
د ژوو هغه پاتي شوني دي چې د جيولوژي په بيلابيلو دورو کې د وخت په تيريدو سره تر رسوبی طبقو لاندې راټوليږي .
✱ په اوسني نړۍ کې نفت څه اهميت لري او د نفتو اهميت څه وخت زيات شو ؟
په اوسنی نړۍ کې نفت اقتصادي اهميت لري د موټرو او ګاډيو ، ټانکونو او الوتکو ګرځيدل په نفتو پوري ترلی دي د نولسمي پيړۍ په نيمايی کې نفتو ډيره پراختيا وکړه .
✱ د نفتو لومړي څاه په کوم کال چيرته او د څو متره په ژوروالي سره وکيندل شوه ؟
د نفتو لومړي څاه په ۱۸۹۵ م کال کې د امريکې په پنسلوانيا کې وکېندل شوه ژوروالی يی ۲۰ متره وه .
✱ د نفتو له لومړي څاه څخه هره ورځ څومره نفت ايستل کېدل ؟
چې هره ورځ د هغه څخه څلور مکعب متره نفت ايستل کېدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ د اسیا لویی وچې په کومو هیوادونو کې نفتو زیرمي شته نومونه یی ولیکئ ؟
سعودي عربستان ، عراق ، کویټ ، عربی متخده امارات ، قطر ، روسیه ، ایران ، افعانستان او اندونیزیا او نور .
✱ مینځنی ختیځ د نړۍ په سلو کې څو فیصده نفت لري ؟
مینځیني ختیځ د نړۍ په سلو کې ۶۵٪ نفت لري .
✱ د نړۍ لومړي درجه د نفتو تولیدوونکي هیواد کوم دي او د نړۍ څومره برخه نفت لري ؟
د نفتو لومړي درجه تولیدونکي هیواد عربستان دي د یوازیتوب سره د نړۍ د نفتو څلورمه برخه نفت لري .
✱ د اروپا په کومو هیوادونو کې نفت شته نومونه یی ولیکئ ؟
بلژیک ، انګلستان ، المان ، فرانسه ، ناروي ، هالند او ایتالیه .
✱ د افریقا او امریکا په لویو وچو په کومو هیوادونو کې د نفتو زیرمي شته ؟
په افریقا کې : لیبیا ، الجزیر ، نایجریا ، او ګابون دي
په امریکا کې : تکزاس ایالت ، لوئیزیانا ، الاسکا ، وینزویلا ، اکوادور ، کالیفورنیا ، اوهایو او اوکولاهاما ، ارکانزاس او مسی سی پی او داسی نور .
✱ په نړۍ کې د نفتو مهم واردونکي هیوادونه کوم دي نومونه یی ولیکئ ؟
امریکا ، جاپان او روسیه .
✱ عیر د سوځولو څخه د نفتو څخه نور کوم اجناس جوړیږي ؟
مصنوغي الیافو ، جامو ، رختونو ، د مصنوعي پلاستیک ، عطرو صابونونو ، رنګونو ، کېمیاوي صنایعو ، ماشین الاتو ، ربړونو ، درملو ، مصنوغي سرې ، خشره وژونکو او د مینځلو په موادو کې کار اخیستل کیږي .

## طبیعي ګاز

✱ طبیعي ګاز تعریف کړي ؟
د ژوندیو موجوداتو له پاتي شونو څخه عبارت دي .
✱ طبیعي ګاز د چاڼ کولو څخه وروسته د څه لپاره استعمالیږي ؟
طبیعي ګاز د چاڼ کولو څخه وروسته د سون او تودوخي لپاره استغمالیږي .
✱ د ګازو تولید مهم مرکزونه د اسیا په کومو هیوادونو کې دي نومونه یی ولیکئ ؟
روسیه ، قطر ، سعودی عربستان ، عربی متخده امارات ، ایران ، افعانستان ، ترکمنستان او ازبکستان کې دي .
✱ روسیه د نړۍ څو فیصده ګاز لري ؟
روسیه په یوازیتوب سره د ټولي نړۍ په سلو کې ۳۳٪ طبیعي ګاز لري .
✱ د ګازو تولید مهم مرکزونه د امریکا لویی وچې په کومو هیوادونو کې دي نومونه یی ولیکئ ؟
امریکا متخده ایالت او کاناډا کې شته .
✱ په امریکا متخده ایالتونو کې د ګازو مهمه نل لیکه د کومو ایالتونو تر مینځ تیره شوي ده نومونه یی ولیکئ ؟
د تکزاس او نیویارک ترمینځ تیره شوي ده .
✱ ولی د وینزویلا طبیعي ګاز بهر ته لږ صادریږي علت یی واضع کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library
له دې امله چې توليدي مرکزونه يې د سوداګرۍ له بازارونو څخه ليرې دي د هغو ډيره لږه اندازه بهر ته صادريږي .
✱ د ګازو توليد مهم مرکزونه د اروپا لويې وچې په کومو هيوادونو کې دي نومونه يې وليکئ ؟
ايټاليه او فرانسه کې شته دي .
✱ ولې د فرانسې د لاک سيمې ګاز په خاص نل ليکه کې چې د ځانګړي الياژ څخه جوړه ده انتقاليږي ؟
د دې وجې له کبله چې د دې سيمې ګاز دومره زيات سلفر او ګوګړ او لوړه تودوخه لري چې پولادي نل ليکه يې د ليږدولو ځواک نه لري .
✱ د ګازو مهم واردونکې هيوادونه کوم دي نومونه يې وليکئ ؟
فرانسه ، ايټاليه ، ارجنټاين ، جاپان .
✱ د نړۍ تر ټولو لوي د طبيعي ګاز توليدونکې او مصرف کوونکې هيواد کوم دي وليکئ ؟
د نړۍ تر ټولو لوي د طبيعي ګاز توليدونکې او مصرف کوونکې هيواد امريکا متحده ايالت دي .

## د انرژۍ منابعو جغرافيه ويش

✱ په ټوله نړۍ کې د انرژي منابع څه ډول دي تشريح يې کړي ؟
په ټوله نړۍ کې د انرژي منابع يو شان او برابر ډول نه دي بلکې د نړي په بيلا بيلو ځايونو کې په شيندلي ډول موندل کيږي .
✱ د اروپا ،اسيا ، امريکا او جنوبی نيمه کره په کومو هيوادونو کې د ډبرو سکارو زيرمې شته وليکئ ؟
په اروپا کې : فرانسه ، بلژيک ، هالنډ ، المان او پولنډ هيوادونو کې شته
په اسيا کې : جاپان ، د ويتنام په شمال ، چين ، هند ، ايران او د سايبريا د کربنې په اوږدو کې شته
په جنوبی نيمه کره کې د ډبرو سکرو منابع د شمالي نيمې کرې پرتله لږې دي يوازې د ټولې نړۍ د رايسټل شوو زيرمو په سلو کې پنځه برخې جوړوي .
د امريکا په متحده ايالتونو کې شته .
✱ د اروپا ،اسيا ، امريکا په کومو هيوادونو کې د نفتو زيرمې شته وليکئ ؟
نفت د اروپا په انګليستان ، هالنډ ، فرانسه ، بلژيک  المان او ايټاليا کې شته
نفت د اسيا په روسيه ، منځني ختيځ ، عربي متحده امارت ، سعودي عربستان ، عراق ، ايران ، قطر او کويټه کې شته .
د امريکا په لويه وچه کې د امريکې متحده ايالات په نړي کې د نفتو يو مهم توليدونکې هيواد دي .
✱ د اسيا او امريکا په کومو هيوادونو کې د ګازو زيرمې  شته وليکئ ؟
په اسيا کې روسيه ، ايران او ترکمنستان هيوادونه دي
په امريکا کې په متحده ايالاتو او کاناډا کې زياته اندازه طبيعي ګاز موندل کيږي .
✱ په نړۍ کې د هغو پنځو ناحيو نومونه وليکئ چې د اوبو پرمختللي ځواک لري ؟
- په اروپا کې لويديځې جنوبي او مرکزي سيمې
- د امريکا په لويه وچه کې د امريکا متحده ايالات

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په اسیا کې جاپان
- یو شمیرنوري هغه سیمې چې له دې پلوه زیات اهمیت لري د روسیې اروپایی برخې او د برازیل ختیځې غرنۍ سیمې دي .

## په نړۍ کې کانونه او د هغو اهمیت

✱ د نړۍ پرمختللي هیوادونه د کومو کانې توکو څخه په ګټوره توګه کار اخلي ؟
د نړۍ پرمختللي هیوادونه له بیلا بیلو کانې توکو لکه : سون توکې ، ودانیزو توکو ، منرالونو ، بیلا بیلو فلزاتو او نورو څخه په ګټوره توګه کار اخیستل .
✱ د سون توکو څخه انسانان څرنګه استفاده کوي ؟
د سون توکو څخه انسانان د بریښنا په تولید ، د کورونو په تودولو ، پخلي ، د اورګاډو په ګرځولو او نورو ځایونو کې ورڅخه کار اخلي .
✱ انسانانو څه وخت د تمدن په ډګر کې قدم کېښود ؟
کله چې د لومړنیو وسایلو پرځای فلزي سامانونه او وسایل جوړ شول انسانانو د تمدن په ډګر کې قدم کېښود
✱ کله چې انسانان د فلزاتو په کلکوالي ، د بڼې بدلون په وړتیا او د ټینګوالي په ارزښت پوه شول د کومو شیانو په جوړولو یې پیل وکړ ؟
کله انسانان د فلزاتو په کلکوالي ، د بڼې بدلون او د ټینګوالي په ارزښت پوه شول نو د فلز څخه یې د جګړې او ښکار لپاره د وسایلو په جوړولو ، د بیړې چلولو او ودانیو په صنعت او نورو وسایلو په جوړولو کې ور څخه کار واخیست .
✱ هغه پخواني فلزات چې انسانانو ور څخه استفاده کوله کوم دي نومونه یې ولیکئ ؟
هغه پخوانې فلزات عبارت دي له : اوسپنه ، مس ، سره زر او سپین زر .
د کانونو رایستلو لارې چارې
✱ د کانې توکو په رایستلو کې کوم عوامل مهم رول لري ؟
د کانې توکو رایستل او د هغو څخه کار اخیستل د هغو له اندازې ، جغرافیه یی موقیعت ،ارزښت ،د راتولیدو څرنګوالي او د جیولوجیکي حالت سره سره اړیکې لري همدارنګه د هیوادونو سیاسی ، ټولنیز او اقتصادې لاملونه د کانی توکو په رایستلو کې اعیزه لري .
✱ د کانې توکو رایستل او د هغه څخه کار اخیستلو پړاوونه تشریخ کړي ؟
د پلټنې او جیولوجیکي څیړنو څخه نیولي د زیرمو تر کمیت او کېفیت ، تثبیت او ارزښت تر ټاکلو پورې پورې باید کار وشي .
✱ د امریکا په متخده ایالاتو په کلیفورنیا کې د نفتو څاګانو ژور والي څومره او په رومانیا کې څومره ژور والي لري ولیکئ ؟
د امریکا په متخده ایالاتو په کلیفورنیا په ایالت کې د ۴۵۰۰ مترو په ژور والي او په رومانیا کې د ۱۲۰۰ مترو په ژور والي څاګاني کېندل شوي دي .
✱ د نفتو تر لاسه کېدو تولله بیه په څه پورې اړه لري ؟
د نفتو د ترلاسه کېدو تولله بیه په سیده توګه د څاګانو په ژورتیا ، برمه کولو او د څاګانو څخه د نفتو د رایستلو له فشار سره اړیکه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ د امریکا متحده ایالت ، مینځنی ختیځ ، وینزویلا او په کاناډا کې د ورځې یو ځاه څخه څو بیلره نفت رایستل کیږي ؟

د امریکا په متحده ایالت کې د هرې ځاه څخه په ورځ کې په مینځنی توګه ۱۳ بیلره ، په مینځنی ختیځ کې ۵۳۰۰ بیلره ، وینزویلا کې ۲۴۰ بیلره او په کاناډا کې ۴۶ بیلره نفت تر لاسه کیږي .

✱ د ډبرو سکارو د هغو کانونه چې ډیر ژور دي د ډبره سکاره ور څخه څنګه رایستل کیږي ؟

په دغو سیمو او ځاګانو کې کارکوونکي او د کار وسایل د کان بیلا بیلو ژورو ځایونو ته په لفت کې ور ښکته کیږي او بیا په همدعو لفتونو کې سکاره راباسی .

## په نړی کې صنایع ، ارزښت او دولونه یې

✱ د صنایعو ارزښت په څه کې دي واضح یې کړي ؟

د صنایعو ارزښت په دې کې دي چې د خامو او لومړنیو موادو بڼه بدلوي او د هغو ګټورتوب او کیفیت او ارزښت لوړوي .

✱ د صنغتي فعالیت لپاره باید کوم شرایط برابر شي ؟

د یو صنغتي فغالیت لپاره باید لاندې شرایط برابر شي

لومړني توکي ، انرژي ، د لیږدولو وسایل ، مواصلاتي کربښې ، ځمکه ، کار ځواک ، پانګه ، د لګښت بازار او فنی پرسونل .

✱ مهمي صنعتي سیمي چې هلته صنایع را مینځته شوي نومونه یې ولیکئ ؟

شمالي امریکا ، اروپا او د اسیا ختیځ او جنوب ختیځ سیمي .

✱ د شمالي امریکا او اروپا صنعتي سیمي کوم دي نومونه یې ولیکئ ؟

د شمالی امریکا صنعتي سیمي کاناډا او متحده ایالت کې تر سترګو کیږي

د اروپا صنعتي سیمي د دغې وچې په لویدیځ په المان کې د روهر ناحیه او د انګلیستان ، فرانسه ،ایتالیا د شمال سیمي د اروپا ډیرې مهمي سیمي بلل کیږي .

✱ د اسیا صنعتي سیمي کومي دي نومونه یې ولیکئ ؟

د اسیا مهمي صنغتي سیمي په لاندې ډول دي

هانګ کانګ ، مالیزیا ، تایوان ، جنوبي کوریا او سنګاپور .

✱ صنایع په څو ډوله دي د هریو په اړه لنډ معلومات ولیکئ ؟

په دوه ډوله دي

لومړي : سپک صنایع هغه صنایع دي چې د هغو بنسټ په نیمه صنعتي مخصولاتو یا دهغو په اجزاوو باندي ولاړ وي او کوم وروستي تولیدات چې ورڅخه ترلاسه کیږي په سیده توګه د خرڅلاو بازار ته وړاندې کیږي چې د هغو بڼه بیلګه د خوراکي توکو ، نساجي او لباس ، د څرمني او نور

دوهم : درانه صنایع هغه دي چې د هغو بنسټ په ډیرو کاني یا ځمکنیو خامو توکو لکه د ډبرو سکاره ، فلزات او اومه نفتو باندې ولاړ وي او معمولا نیمه صنعتي تولیدات لري چې بیا وروسته د نورو شرکتونو په وسیله ورځیني پوره پاخه او صنعتي توکي جوړیږي لکه د پولادو جوړلو صنعت ، د نفت چاڼ او د کیمیاوي توکو صنایع .

## د صنایعو په پرمختګ کې اغیزمن لاملونه

✱ د صنایغو په رامینځته کېدو او پراختیا کې اغیزمن لاملونه کوم دي ولیکئ ؟

د صنایغو په رامینځته کېدو کې دوه مهم عوامل عبارت دي ۱ طبیعي لاملونه ۲ بشري لاملونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ د هغو طبيعي لاملونو نومونه وليکئ چې د صنايعو په رامينځته کېدو او پرمختګ باندې اعيزه لري ؟
هغه طبيعي لاملونه غبارت دي له : ځمکه ، انرژي او لومړني توکي .
✱ د لومړنيو توکو ، انرژي او ځمکې په اړه معلومات وليکئ چې د صنايعو رامينځته کېدو او پرمختګ کې مهم رول لري ؟

✱ بشري لاملونه کې کوم لاملونه شامل دي نومونه يې وليکئ ؟
کارځواک ، پانګه ، د خرڅلاو بازار او خمل او نقل .

## نړی واله سوداګري او د هغې اهميت

✱ سوداګري تغريف کړي ؟
سوداګري د اجناسو او خدماتو تبادله کول دي چې د وو لورو وګړو ، ډلو او هيوادونو تر مينځ ترسره کيږي .
✱ په عمومي توګه په نړۍ کې څو ټکي د سوداګري او مالونو ليږولو په برخه کې مهم دي نومونه يې وليکئ ؟
په عمومي توګه ټوله نړۍ کې څلور ټکي د سوداګري او مالونو د ليږدولو په برخه کې مهم رول لري ؟
١ . په نړۍ کې د ځمکنيو توکو ويش : يو شمير هيوادونه لکه جاپان ، خام يا ځمکني توکي ډير لږ لري نو دوي بايد هغه د نورو هيوادونو نه را وارد کړي .
٢ . نژديوالي : د بيلګې په توګه د افغانستان سوداګري زياتره له نژدې او ګاونډيو سره ده .
٣ . د لاسرسۍ وړتيا : بني او غوره لاري په لويو سيمو باندي لاسرسي اسانه کوي د بيلګي په توګه انګليستان او فرانسی ترمينځ د اوبو لاندي تونل جوړول .
٤ . د پرمختيا د کچې درجه .
✱ هغه اجناس او مالونه چې د نړۍ په سوداګري کې ډير مهم دي هر يو په لنډه توګه تشريخ کړي ؟
دري ډوله مهم دي : ١ . ځمکني توکي : دا هغه ډول مخصولات دي چې لاصنعتي شوي نه وي او حام توکي هم ورته ويل کيږي لکه مالوچ .
٢ . نيم صنعتي شوي توکي : هغه ځمکني توکي چې په هغو باندي کار شوي وي او بڼه يې او خرنګوالی يې بدلون موندلی وي لکه رخت چې د مالوچو څخه جوړ شوي دي .
٣ . وروستي محصول : هغه مواد يا مخصولات چې ټول صنعتي او توليدي پړاوونه يې تير کړي وي لکه هغه دسمالونه او جامي چې له ټوکر څخه جوړ شوي دي .
✱ کوم هيوادونه د نړۍ په سوداګري کې ډيره برخه لري او د globalization مفهوم واضع کړي ؟
د نړۍ په سوداګري کې ډيره برخه پرمختللی هيوادونه لري او globalization نړۍ وال کېدلو مفهوم لري .
✱ د نړۍ والي سوداګري ګټې څه دي او ستونزي يې څه دي واضع يې کړي ؟
ګټې يې : د نړۍ سوداګري د خلکو د اړتياوو پوره کېدل او د هيوادونو د پرمختګ لامل کيږي او د خلکو د ژوند د کچې په لوړيدو کې مهم ارزښت لري ،
ستونزې يې : د ترانسپورټ له امله د چاپيريال ککړتيا د ترنسپورټ په زياتيدو سره ورځ په ورځ د ژوند چاپيريال اغيزمن کيږي د اقليم بدلون ، د ترافيک د ډيري ګڼي ګوڼي او د ناوړه غږ زوږ او شور ماشور لامل کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سوداګریزو راکړو ورکړو حجم

✱ د سوداګریزو جنسونو ډیره راکړه ورکړه کوم هیوادونه ترسره کوي ؟

د سوداګریزو جنسونو ډیره راکړه ورکړه د پرمختللو هیوادونو تر مینځ ترسره کیږي .

✱ د نړی ۲۰ فیصده بډای هیوادونه په سلو کې څو عایدات او په سلو کې څو وردات لري ؟

په سلو کې ۲۰ بډای هیوادونه د نړۍ په سلو کې ۷۵ عایدات ، په سلو کې ۸۵صادرات او په سلو کې ۷۵ تیلفونونو لینونه په واک کې لري .

✱ د نړۍ ۲۰ فیصده بی وزله هیوادونه په سلو کې څو عایدات او په سلو کې څو صادرات او په سلو کې څو د تیلفونونو لینونه په واک لري؟

د نړۍ په سلو کې ۲۰ فیصده بی وزله هیوادونه د نړۍ یوازې په سلو کې یو عایدات ، په سلو کې یو صادرات او په سلو کې ۱،۵ د تیلفونونو لینونه لري .

✱ د نړۍ بی وزله هیوادونو پخوا د کومو شیانو خرڅولو څخه یو څه پیسی تر لاسه کولای او بډای هیوادونو د څه شی خرڅولو څخه ګټه تر لاسه کوله ؟

د نړۍ بی وزلو هیوادونو پخوا یوازې د خامو یا ځمکنیو توکو له صادراتو څخه یو څه پیسي تر لاسه کولې خو بډای هیوادونو د صنعتي پخو جنسونو له پیرودلو څخه ګټه تر لاسه کوله .

## ازادي سوداګریزې سیمي او د هغوی اهمیت

✱ د ازادي سوداګریزو سیمو مفهوم د کومو هیوادونو سره سر خوري ؟

د نړي هغه سیمي او هیوادونه چې په هغو کې ازاده سوداګري ترسره کیږي او د ازاد بازار سوداګریز سیاست یې غوره کړي وي د ازادو سوداګریزو سیمو مفهوم لري .

✱ ازاده سوداګری تعریف کړي ؟

ازاده سوداګري هغه سوداګری او راکړه ورکړه ده چې پرته له هر ډول پولې او خند څخه ترسره شي .

✱ د نړی هیوادونه د خپلو ملی صنایعو د ملاتړ په خاطر کوم کارونه تر سره کوي ؟

د نړي هیوادونه د خپلو ملی صنایعو د ملاتړ او پیاوړتیا په خاطر او د خپلو داخلي تولیداتو د ښه کولو په خاطر یو ډول ګمرکي مالي او سوداګریز سیاست غوره کوي .

## د سوداګریزو سیمو ویش

✱ په کومه پیری کې د سوداګریزو مالونو لیږدول اسانه شوه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شلمه پیړۍ کې د سوداګریزو مالونو لیږدول اسانه شول .

✱ د نړۍ هغه سیمې چې په نړواله سوداګرۍ کې د نورو نه زیاته برخه لري کوم دي ؟

لویدیځه اروپا ، شمالي امریکا ، د اسیا ختیځ او جنوب ختیځ ، د فارس د خلیج هیوادونه او پخواني شوروي اتحاد او ختیځه اروپا دي .

## د نړیوالي سوداګرۍ سازمان

✱ د نړیوالی سوداګرۍ سازمان په کوم کال جوړ او مرکزی دفتر یی چیرته دي ؟

د نړیوالی سوداګرۍ سازمان په ۱۹۹۸ م کال د جنوری په لومړي نیټه جوړ او مرکزی دفتر یی په ژینو کې دي .

✱ د نړیوالی سوداګرۍ سازمان دندې کومې دي واضح یی کړی ؟

نړیوالی سوداګرۍ ته پراختیا ورکول ، د سوداګرۍ ستونزی خل کول ، او د سوداګرۍ خنډونه د مینځه وړل .

✱ نړیوالی سوداګرۍ سازمان په کومو موضوعاتو باندې خبرې کوي ؟

نړیوالی سوداګرۍ په سازمان کې نه یوازی دا چې د جنسونو او مالونو په اړه خبرۍ او پریکړې کیږي بلکې د ملکتیی خقوقو په هکله هم خبرې او پریکړې کیږي .

✱ نړیوالی سوداګرۍ سازمان تر څنګ نورۍ کومې کومکې شوراګانې شته نومونه یی ولیکئ ؟

عبارت دی له ۱ عمومي شورا (general council) ۲ مالونو شورا (good council) ۳ د خدمتونو شورا (services council) ۴ د علمي ملکیتونو شورا (intellectual property council) .

✱ د نړیوال سوداګرۍ په سازمان باندې کومې نیوکې شته ولیکئ ؟

دا چې ځیني وخت د دغه سازمان پریکړې د ټولو غړو هیوادونو په ګټه نه وي په تیره بیا پرمختیایی هیوادونه په ډیره ستونزه سره کولای شی چې د لویدځو پرمختللو هیوادونو په بازارونو کې د خپلو مالونو د خرڅلاو امکانات برابر کړي .

## ګرځندویي (توریزم) او نړیوال اهمیت یې

✱ ګرځندوی تغریف کړي ؟

ټول هغه فعالیتونه چې خلک یی د وزګارتیا پرمهال ترسره کوي او لږ تر لږه له یوې شپې ورځې څخه تر یو کال پورې له کور څخه بهر وي ګرځندویی بلل کیږي.

✱ هر کال په نړۍ کې څومره خلک د خپلې رخصتی تیرولو په خاطر بهرنیو هیوادونو ته ځي ؟

هر کال په نړۍ کې ۷۰۰ میلیونه تنه د خپلو رخصتیو د تیرولو په خاطر بهرنیو هیوادونو ته ځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ هغه لاملونه په ګوته کړي چې د پرمختللو هیوادونو خلک د پخوا څخه زیات د نړۍ لرې سیمو ته سفرونه کوي ؟

لاملونه یې عبارت دي له : د ډیرو پیسو لرل ، د ژوند دمي او تفریح د وسایلو ښه کېدل او د لیږدولو د وسایلو پرمختګ دي .

✱ د ګرځندوي هغه دوه لاملونه تشریح کړي چې د پرمختیایی هیوادونو اقتصادي ودې سره مرسته کوي ؟

۱ د عایداتو زیاتوالی : کله چې ګرځندویان او سیلانیان یوه هیواد ته ورځي اړ دي چې هلته د خپلو خوړو او اوسیدلو په خاطر هوټلونو ، میلمستونونو ، ترانسپورت ، د سیل ځایونو لکه پارکونه ، موزیمونو او نورو ته پیسې ورکړي او همدارنګه یو شمیر سوغاتونه او سامانونه واخلی چې پرته له شکه د هماغه هیواد په اقصاد غوره اعیزه کوي .

۲ د کار او بوختیا چمتو کول : یوه هیواد ته د ګرځندویانو د پاملرنې او د ګرځندوي د صنعت د پرمختیا په خاطر باید ډیر ښه امکانات لکه میلمستونونه ، هوټلونه ، د اوسیدو ځای او نور ، د ژوند اسانتیاوې لکه ترانسپورټ د ګرځیدو وسایط او نور چمتو شي نو په دې اساس ډیرو خلکو ته د کار موقع په لاس ورځي.

## د نړۍ مهمي ګرځندوي (توریستي) سیمي او هیوادونه

✱ د هغو سیمو نومونه ولیکئ چې تر ټولو زیات ګرځندویان ورځي ؟

هغه سیمي چې هلته تر اوسه تر ټولو زیات ګرځندویان ورځي اروپا او شمالي امریکا ده .

✱ زیاتره ګرځندیان د کومو هیوادونو دی او کومو هیوادونو ته سفر کوي ؟

زیاتره ګرځندویان له پرمختللو هیوادونو څخه وي او پرمختللو هیوادونو ته سفر کوي .

✱ اوس چې پرمختیایی هیوادونو کې ګرځندوي د پراختیا په خال کې دي کوم لاملونه وربادي اعیزه لري ؟

درې لاملونه دي چې عبارت دي له :

۱ : د حمل او نقل وده او پراختیا .

۲ : زیاتره وخت پرمختیایي هیوادونه ګرځندویانو ته په زړه پوري وي ، دا ځکه چې دعه هیوادونه غوره هوا او په زړه پوري طبیعت لري له بلې خوا یو ګرځندوی په لږ لګښت سره هلته خپلې ورځې تیرولای شي .

۳ : د پرمختیایی هیوادونو دولتونه هڅه کوي چې د خپلو هیوادونو د اقتصاد د ودې لپاره په ګرځندوی سیمو کې ښه والی راولی او د ګرځندویانو پام ورته را واړوي .

✱ په اروپا کې د ګرځندوي لپاره کومي سیمي په زړه پوری دي او ولی ؟

مرکزي ، جنوبی او جنوب لویدیځه اروپا د مدیترانې د سیمې په ګډون د نړۍ د ګرځندوی ډیرې مهمې سیمي دي ، ځکه چې ډیری اسانتیاوې لري لکه : د مدیترانې د سمندرګي لمر لرونکي غاړي او په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library
پورې هوا په اوړي کې د لامبو ، موټر ځغلولو ، سپورټي راز راز لوبو او د اس ځغلولو لپاره ډېر غوره دي همدارنګه لوی تاریخي ښارونه لکه : پاریس ، لندن ، روم ، مادرید او المان او هالنډ یو شمیر ښارونه او نور د تیاترونو ، سینماګانو او هنري ننداړو ، موزیمونو ، تاریخي ودانیو په زړه پوري پارکونو اود موسیقي جشنونو له پلوه او نور .

✱ په شمالي امریکا کې د ګرځندوي لپاره کومي سیمي په زړه پورې دي ؟

د امریکا متحده ایالات او کاناډا ملی پارکونه ، ژوبڼونه ، د لمر لرونکو او سواحلو ، کلتوري سیمو او موزیمونو په لرلو سره د ګرځندویانو د پام وړ هیوادونه دي .

✱ په اسیا کې د ګرځندوي لپاره کومي سیمي په زړه پورې دي ؟

مکه معظومه ، ترکیه ، چین ، اندونیزیا ، هند او نور یو شمیر هیوادونه هم د ګرځندوی ته په زړه پورې سیمو په لرلو سره هر کال د ګرځندویانو پاملرنه ځانته را اړوي .

## د توریزم د راښکون (جذب) سرچېنې

✱ د توریزم د راښکون سرچېنې په څو برخو ویشل شوي دي ولیکئ ؟

په دوه برخو : لومړي طبیعي سرچېنې دوهم تاریخي او کلتوري سرچېنې .

✱ طبیعی سرچېنې ، تاریخی او کلتوري سرچېنې تشریح کړئ ؟

طبیعي سرچېنې لکه : اوړی کې اروپا ، مرکزي امریکا ، جنوبي امریکا ، د جنوب ختیځي اسیا او استرالیا د سیندونو ، جهیلونو او سمندرګیو غاړي .

عرنې سیمې لکه : اتریش او سویس کې الپ ، افریقې ، امریکې او نورو ځایونو کې طبیعي پارکونه ګرځندویانو ته په زړه پورې دي .

تاریخي او کلتوري سرچېنې لکه : پخواني وداني ، پیړې (تنې جسدونه) موزیمونه ، ننداړتونو او فرهنګي مرکزونه لري لکه اروپا ، امریکا ، اسیا و افریقي مشهور او نامتو ښارونه .

## د توریزم نړیوال سازمان

✱ د توریزم نړیوال سازمان کومي چاری پرمخ وړي تشریح یی کړئ ؟

یو ځانګړي سازمان دي چې د ګرځندوی په برخه کې ټولې نړیوالي ستونزي اواروي .

✱ د ګرځندوی نړیوال سازمان لومړي عونده په کوم کال په کوم ځای کې جوړه او لومړي رئیس یی څوک وه ؟

د ګرځندوي د نړیوال سازمان لومړنی لویه عونده د هسپانیي هیواد په بلنه د ۱۹۷۵ م کال د مې په میاشت کې د هغه هیواد د مادرید په ښار کې جوړه شوه او روبرت لوناتي د دعه سازمان لومړنی رئیس وټاکل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

✱ په اوسني وخت کې د ګرځندوی نړیوال سازمان څو غړی ، څو ساخوي مرکزونه او څو سیمه ییز کمیسیونونه لري ؟

په اوسنۍ وخت کې د نړی ۱۶۱ هیوادونه او سیمي د ګرځندوی د نړیوال سازمان غړیتوب لري

چې ۳۹۰ ساحوي مرکزونه ، ۶ کمیسیونونه لري چې په اروپا ، افریقي ، ختیځې اسیا ، پسفیک ، منځنې ختیځ او جنوبی اسیا کې فعالیت کوي .

✱ د ګرځندوی نړیوال سازمان لویه یا عمومي عونډه په څو کلونو کې دایریږي او ریئس یی د څو کلو لپاره انتحاب کیږي ؟

د ګرځندوی نړیوال سازمان لویه یا عمومي غونډه په هرو دوو کلونو کې یو ځل جوړیږي او ریئس یی د څلورو کلونو لپاره غوره کیږي .

✱ د ګرځندوی نړیوال سازمان رسمی ژبې کومی دي او افغانستان په کوم کال د دې سازمان غړیتوب ترلاسه کړ ؟

د ګرځندوی نړیوال سازمان رسمي ژبې عربي ، انګلیسی ، فرانسوي ، روسي او هسپانوي دي

افغانستان په ۱۹۷۵ م کال د دغه سازمان غړیتوب ترلاسه کړ .

## نړیوال حمل او نقل او د هغه اهمیت

✱ حمل او نقل اصطلاح څه مغنا لري ولیکۍ ؟

د لیږدولو او رالیږدولو څخه عبارت ده .

✱ حمل او نقل د ژوند چارو د کومو برخو ډیره اعیزه لري ؟

د یادوني وړ ده چې حمل او نقل په ټولو هیوادونو کې د خلکو میشت کېدو پر ځایونو ، د فابریکو لپاره د ځایونو په غوره کولو ،د مارکیټونو ځای په ټاکلو ، د شرکتونو ، دفترونو ، صنعتي مرکزونو او تاسیساتو د ځایو په غوره کولو کې ډیره اعیزه لري .

✱ هغه عوامل ولیکۍ چې نړیوال حمل او نقل ته یی ډیره وده ورکړي ده ؟

د نفتو زیاتوالی ، د اقتصاد وده ، سیمه ییزه پرمختیا او د ترانسپورتي لارو او کرښو بنه کېدل دي .

✱ زیات لیږدول او را لیږدول کومي ستونزي مینځ ته راوړي ولیکۍ ؟

۱: د ژوند د چاپیریال ککړتیا

۲ : د زیاتو وسایلو له امله ځیني وخت لاری بندې او د ترانسپورتي وسایلو ګڼه ګونه د دې لامل کیږي چې خلک او مالونه په وخت اړینو ځایونو ته ونه رسیږي .

۳: نا امني .

۴ : په ترانسپورتي لارو او کرښو باندې ډیري ښې حاصل ورکونکي ځمکي نیول کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حمل او نقل ډولونه

✱ حمل او نقل په څو ډوله دي ولیکئ ؟

په درې ډوله دي : په اوچه کې ، د هوا له لارې او اوبو کې .

✱ د حمل او نقل د وسایلو او د هغو اړوند کرښو ځانګړتیاوې ولیکئ ؟

د حمل او نقل یو شمیر وسایل کولای شي هرڅه ولیږدوي ، یو شمیر نور یوازې د یو څو ځانګړو محصولاتو د لیږدولو لپاره غوره دي ، د حمل او نقل د یو شمیر وسایلو ګړندیتوب ډیر لږ خو د یو شمیر نورو زیات دي .

✱ د هر ډول ترانسپورتي وسایلو بیخبنا څه شي دي ولیکئ ؟

دا دي : لویې لارې ، پاخه سړکونه ، د اوسپني پټلۍ ، هوایی ډګرونه ، مصنوعي سپوږمۍ ، سمندري بندرونه ، ترمینلونه ، نل لیکې او نور .

✱ د ترانسپورټ یا حمل او نقل سیستم څرنګه مینځته راځي ولیکئ ؟

که چیرته یو شمیر سیمې یا ښارونه د ترانسپورتي کرښو په واسطه سره ونښلول شي یو ډول ترانسپورتي سیستم یا حمل او نقل سیستم ورڅخه جوړیږي .

## سیالی او رقابتونه

✱ د یوې ترانسپورتی وسیلي په غوره کولو کې کوم لاملونه اغیزه لري ؟

د یوې ترانسپورتی وسیلي په غوره کولو کې بیلابیل لاملونه اعیزه لري لکه : بیه ، بارول ، تشول ، واټن ، د مالونو اندازه او دروندوالی او نور .

✱ په دې وروستیو وختونو کې څرنګه د ترانسپورتي وسیلو په غوره کولو کې سیالی شوي تشریح یې کړئ ؟

پخوا به د یوې وسیلي په غوره کولو کې د لیږدولو بیې ډیر ارزښت درلود ، خو اوسني وخت کې د یوې ترانسپورتي وسیلي په غوره کولو یو شمیر نور ټکي لکه : ډاډمن لیږدول لومړیتوب لري ، خو بیا هم د لیږدولو بیه اوس هم د وسایلو په غوره کولو کې مهمه ده .د مالونو او جنسونو ډول هم ترانسپورتي وسیلي د ډول په غوره کولو کې اغیزه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**